احتمال پیروزی ، موفقیتهای محتمل و در مواقع شاقه تبارز می نماید شرح ذیل روشنی می اندازد .

« لو کان عرضاً قریباً وسفراً قاصداً لاتبعوک ولکن بعدت علیهم الشقة ، وسیحلفون باللّٰه لو استطعنا لخرجنا معکم یهلکون انفسهم واللّٰه یعلم انهم لکٰذبون ● (التوبة-۴۲)

« اگر بودی نفعی قریب الحصول وسفر کوتاهی حتماً ترا متابعت میکردند و اما دور نمود بر آنان مسافت و راه (بناءً از متابعت تو اجتناب ورزیدند» و بخدا سوگند یاد کنند که اگر استطاعت میداشتیم حتما با تو بیرون میرفتیم، خود را هلاک میکنند و خداوند میداند که ایشان در وغگویانند » .

این گروه منافق که عدم شرکت شانرا در جنگ با تو سل به سوگند های کاذبانه توجیه میکنند ، و بعدم استطاعت شان استناد می ورزند، در اثنای دعوت به سهمگیری در جنگ سعی می ورزند تا با اقامهٔ معاذیر بظاهر معقول اجازهٔ عدم شرکت در جنگ را حاصل کنند ولی قرآن در بارهٔ آنان میفرماید :

« انما یستاذنک الذین لا یومنون باللّٰه والیوم الآخر و ارتابت قلوبهم فهم فی ریبهم یترددون » (التوبة : ۴۵) .

« جز این نیست که ان تو (فقط) کسانی اجازت میخواهند (تا در جنگ شرکت نکنند) که بخدا و روز آخرت ایمان نمی آرند ، و دلهای شان شک کرده است پس آنان در شبههٔ شان سرگردان اند » .

برای تشخیص کذب معاذیر دروغین عناصر منافق طی این آیه محکم و ملاک باز گوکنندهٔ ای معرفی میشود .

"ولو ارادوا الخروج لاعدوا له عدة و لكن كره الله انبعاثهم فثبطهم وقيل اقعدوا مع القاعدين" (التوبة: ۴۶).

"اگر بیرون رفتن (بجهاد) را خواستندی حقاً برای آن سامان (ضروری سفر) را مهیا میکردند و لیکن خداوند بر انگیختن آنانرا نپسندید پس سُست کرد و ان حرکت بان داشت ایشانرا و بآنان گفته شد که بنشینید با قاعدین (کسانیکه از جنگ فرو نشسته اند)".

عدم امادگی برای اشتراک در جنگ، عدم جنبش و تحرک وشور و شوق و بالآخره کسالت وسستی و در فرجام قعود با نشستگان شواهد زنده برای معرفی چهرهٔ ملیع منافقین است. پیروزیهای نهضت باعث آزردگی و رنجش خاطر عناصر منافق میگردد و مصائب ومتاعب آن موجبات شادمانی و سرور شانرا فراهم میسازد، قرآن دین زمینه میفرماید:

"ان تصبك حسنة تسؤهم و ان تصبك مصيبة يقولوا قد اخذنا امرنا من قبل و يتولوا و هم فرحون".

(التوبه: ۵۰)

"اگر به تو نیکی ای (پیروزی و غنیمتی) برسد ایشانرا غمگین کند و اگر به تو مصیبتی برسد گویند قبلاً کار خود را بدست خود گرفتیم (چارهٔ کار ماندرا از قبل ساخته ایم) بر گردند در حالیکه شادمانند".

هر پیروزی و موفقیتی باین دلیل باعث آزردگی و آزار شان میگردد که خود در حصول آن شرکت نه ورزیده اند واز

سعادت سهمگیری درجریان مساعی برای تحقق آن محروم اند ومخصوصاً باین دلیل رنج میبرند که از افتخارات، وغنایم محروم مانده اند، اما ازمصائب و متاعبی که جنبش بآن روبرو گردیده است بدلایل آنی که در (قد اخذنا امرنا من قبل) تذکر رفته شادمان اند:

۱ــ ما قبلاً در اثنای تصمیم جنگ چون مسلمانان احساساتی تدبیرو عجول، شتابزدگی نکردیم خود را اراده و کار ما را کنترول نموده با سنجیدگی و احتیاط، از شرکت درین اقدام خطرناک اجتناب ورزیدیم بناء از مصیبت مذکور مصئون ماندیم، چون موضع منافقانهٔ آنان استنادی یافته است و به استدلال به شکست و ریخت و تلفات و ضایعات (که صفوف عناصر مجاهد بآن روبرو گردیده است) حقانت موضع منافقانهٔ شانرا تثبیت نموده آنرا موجه جلوه میدهند، بناءً راضی وخشنود اند.

۲ــ اگر مجاهدین با ایمان در درگیری های مذکور با شکست مواجه شدند و امکان استقبال آنان متصور است اما در نتیجهٔ سازش و زد و بند با دشمن برای خود چاره سازی قبلی کرده ایم ازینکه سازش و زد و بند مذکور سند برائت آنان خواهد شد و ازخشم دشمن در امان خواهند ماند از اقدام به آن راضی وان اتخاذ این موضع خائنانه و منافقانه مسرور اند وآنرا بدرایت، احتیاط وسنجیدگی خود حمل میکنند. قرآن مجید در جای دیگری میفرماید:

« و اذا انزلت سورة ان امنوا بالله و جاهدوا مع رسوله استأذنك اولو الطول منهم و قالوا ذرنا نكن مع القعدين • رضوا بان يكونوا مع الخوالف و طبع على قلوبهم فهم لا يفقهون • »

(التوبه : ۸۶ ، ۸۷)

« و چون سورهٔ باین مضمون نازل شود که به خدا ایمان آرید و همراه با پیامبرش جهاد کنید صاحبان استطاعت و توانائی آنان از تو اجازت میخواهند و میگویند: بگذار ما را تا با قاعدین باشیم و راضی شدند که با زنان عقب مانده از جنگ باشند و با دلهای آنان مهر کوبیده شد ، پس ایشان نمیدانند » .

این گروه فرومایهٔ جبون نه تنها خود از شرکت در جنگ اجتناب میورزند و از اتخاذ مواضع منافقانه راضی اند ، بلکه سعی میکنند تا دیگران را نیز همراه با خود از مسلمانه شوند چنانچه قرآن کریم میفرماید :

« فرح المخلفون بمقعد هم خلف رسول الله و كرهوا ان يجاهدوا باموالهم و انفسهم فى سبيل الله و قالوا لا تنفروا فى الحر قل نار جهنم اشد حرا لو كانوا يفقهون • »

(التوبه : ۸۱)

« شادمان شدند عقب گذاشته شدگان (از جنگ) به نشستن

خود برخلاف پیامبرخدا و نه پسندیدند که در راه خدا با مال و جان شان جهاد کنند و گفتند : در گرمی بیرون مروید، بگو آتش دوزخ سخت تر است در گرمی، کاش میفهمیدند ».

اگر به شدت آتش دوزخ پی میبردند هرگز بااستناد گرمی و عدم مساعدت هوا، از شرکت در جنگ تخلف نمیورزیدند و با استناد بآن دیگران را مانع نمی شدند .

و در آخرین قسمت آیهٔ چارم سورهٔ محمّد کلیات احکام جنگ و هدف آنرا با ایجاز و اختصار توضیح نموده و در بارهٔ شهداء مطلبی باین مضمون ذکر شده :

« والذین قتلوا فی سبیل الله فلن یضل اعمالهم »

(محمّد : ٤)

« و آنانکه در راه خدا کشته شده اند پس هرگز خداوند اعمال شانرا ضایع نخواهد ساخت ».

مطلب اینکه : اگر در جریان این ازمایش و در اثنای درگیریهای مسلحانه با دشمن کسی درطریق ایمان و درجهت پاسداری از مرزهای اسلام به شهادت میرسد ، با شهادت وی هرگز مساعی اش به هدر نمیرود و اقداماتش بی نتیجه نمی ماند ، مساعی شهید در فرجام به نتیجهٔ (که به خاطرش باستقبال شهادت رفت) میرسد ، راهش تداوم می یابد و هدفش متحقق میشود ، عمل شهید چون مساعی بازماندگان و بازدارندگان از راه خدا نیست که حبط شود ، این عمل درخطی

است که باعث میشود تا در دنیا و آخرت بارور شود و به ثمر رسد ، تومیکه شهید داد باید مطمئن باشد که شهادت فرزندان مؤمنش در راه خدا نه تنها مایهٔ ضعف و ناتوانی اش نگردیده و جهادش در راه تحقق اسلام در نیمهٔ راه بی نتیجه نخواهد ماند و رکود و توقفی در آن رونما نخواهد شد، بلکه برعکس این شهادتها باعث قوام و استحکام بیشتر نهضت شان خواهد گردید و موجبات پیروزی نهائی آنان را فراهم خواهد ساخت .

پیامبر اسلام درین باره میفرمایند : عمل هر شخص بعد از وفاتش خاتمه می یابد ، مگر آنکسی که در راه خدا اهتمام ورزیده، به شهادت برسد، ثواب عمل چنین شخص تا روز قیامت افزون میگردد و از فتنهٔ قبر مصئون میماند .



حبیب‌الله - رفیع

بل جهان

چې آسمان یې پټ په وریځو ،
تورې لړې پرې خورې دي !
یې « د بخت ستوری » بنکاریږي ،
نه یې « تلې » ،
نه « نغری » شته ،
نه یې « کټ د بوډی » سپروت دی ،
نه « پرېږوني » یې ځلیږي !

* * *

خو :

د اوږې سوځند لمر یې :
د قیامت د وړځې لمر دی !
ټول مخونه یې بنسکار دي :
د خپلو له زړه نه لویږي !

* * *

او :

د ژمي سوځند باد يې :
زمهرير دی ،
زمهرير دی !
چې چليږي !
له هډوکو هم تېريږي !

* * *

دا دنيا د مهاجر ده !
دا جهان د «آواره» دی !

*

۱۳٦٤ ، ۳ ، ٦

يادونه : تلې ، نغرې ، د بوډې کټ ، پرېوونې په آسمان کې د ښلاښلو ستورو د مجموعو فولکلوري نومونه دي .

سید محمود - فارانی
از : راولپندی

ای مرد دوشمشیره!

مردانه به پا برخیز! این شعبده برهم زن
با گرز گران برخصم یك ضربهٔ محکم زن

این اژدر احمر را سرکوب دراین وادی
این وحشی بربر را در صحنهٔ عالم زن

این خانه پر ازخون شد، مردم همه بیرون شد
ای مرد دوشمشیره! شمشیر دما دم زن

برخصم بزن زخمی، بر روس مکن رحمی
بر زخم دل مادر، صد بوسه و مرهم زن

از خاك بکش روسان، برباد بکن خاکش
آتش برخ شوم این دشمن آدم زن

اسلام کهن را باز برپا کن و برپا شو
بر شعله بکن نفرین، هم شعله به پرچم زن

*

ساهـو

راسره وژړل

ما چې ته ژړلې، دې اسمان راسره وژړل
ستا په غم د وطنه ټول جهان راسره وژړل

ما چې ستا له غېبې د غربت دیار ته مخه کړه
غرونه په سګکو شول بیابان راسره وژړل

ما ورته کیسې زما او ستا د بېلتانه وکړې
ګل و، که بلبل او ګلستان راسره وژړل

حال چې وم معلوم شو د هجران او بېکې لاسترګونه
و څخیدې بېکته او کریوان راسره وژړل

وې لیدې لمنې د اسمان نه موږ په وینو سره
دې لمر او سپوږمۍ مې شهیدان راسره وژړل

بله مې د بېوه چې د اغیار محفل کې ولیده
ډېرې په حسرت خپل پتنګان راسره وژړل

سوز مې د فراق د شپو وم پوکې د شپېلۍ زغه ته
خدایې وچې ملګرو نیستان راسره وژړل

*

پیدی

لومړی کال یوولسمه گڼه ۱۳۶٤ هـ.ش د غبرګولی ۲۰ مه
۱۹۸۵م د جون ۱۰ مه

چاپونکی:
محمد صدیق پسرلی

زمون پته:

G.P.O
P.O.BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

بانکی حساب:
الائید بانک - حسن ګیر پوره برانچ
اکاونټ نمبر [illegible]

زبیر « شفیقی

اتل سرباز

ماته د وژلو او اعدام خبرې مه کوئ
زه د انقلاب په کړاونو کې لوی شوی یم
ماته د ولچك او د اعدام ترانې مه وایئ
نه وېرېږم ځکه غوڅ ننګونو کې لوی شوی یم

* * *

ژوند ته آزادی سره مې مینه په فطرت کې ده
نه منم د کفر باداري او فرمان نه منم
تل د هر باطل او بې غلګرځنه نفرت کوم
زه په خپل وطن کې د پردو نوکران نه منم

* * *

بنه روږدی شوی په د غږو او ټکرو کې
زه د آرامۍ له ژوند انه څخه بېزار یم
خوب د پالنګونو مې مزاج سره بنه نه لګي
زه د موږچل غږې ته مدام په انتظار یم

* * *

نه لرم پروا دچا، بې شکه بریښ یمه
توپ او الوتکې مې ایمان ته سلامي کوي
زه د حزب الله د لښکریانو یو عسکر یمه
مرګ یم دهغه چې د باطلو پیروي کوي

* * *

نوم د انقلاب یمه تیاري مې په ډاډه کړه
زه د ډبرې زېړی د وطن د موسچلو یمه
وران به په تکبیر، د کمونیزم مورچلونه کړم
زه اتل سرباز د شهادت د مدرسو یمه

*

درد

درد آمد و رنج آمد و حرمان آمد
آبر آمد و باد آمد و باران آمد
شد خانه ی زندگی ز بُنیاد خراب
من خفته که سیل خانه ویران آمد

(استاد خلیلی)

م . ا . بنگارگر

«سرودی برای مادر وطن»

آوازی در رامه شنیده شد ، گریه و زاری و ماتم عظیم
که راحیل برای فرزندان خود گریه میکند و تسلی نمیپذیرد
زیرا که نیستند .

«انجیل متی باب دوم»

همی گفتم که تا اندیشه ها زنجیری زور است
هنر اندر طلسم بد سگالان زنده در گور است
سخن چون بازوان روسپی بر گردن دینار
خستان ادب تا خالی از مستی و از شور است

* *

شکسته شهپر خود تا که این شاهین گردون تاز
چو مرغ خانگی رفته ز بالش مستی پرواز
بستان لعبتک بازیچهٔ طفلان ابجد خوان
همان بهتر که خون در دل کند ذوق سخن پردان

* *

چه سود از گریهٔ بیهوده ام بر نعش آزادی
دهن دوز است «قدرت» تا زبان خویش بگشادی
مرا چون طبع سازش نیست با «قدرت» چرا آخر
قلم بر کف نهادی وین همه لطف سخن دادی

* *

همی گفتم گلوی نغمه ام را می فشارم تنگ
بخاکش می سپارم همچو بیمار جنون آهنگ
درون سینهٔ خود میکشم ذوق نوا خوانی
نهان از غیر می جوشم به رنگ بادهٔ گلرنگ

* *

ولی امشب دل من سخت طوفان جوش فریاد ست
جنون یکه تازم بیخبر از کید صیاد ست
صدای خفته اندر سرمه ام ذوق فغان دارد
به کار خویشتن دیوانهٔ من یار استاد ست

* *

بگوش امشب صدای ناله ام از رامه می آید
به خون گشته رقم سویم هزاران نامه می آید
حنای خون به پای خویشتن مستانه می بندند
چها آخر زمستی مردم خود کامه می آید

* *

تنت درخون وآتش غرق شد ای بینوا مادر
چرا از سینهٔ تو خون نمی‌جوشد چرا ما در ؟
مگر خشکید اشك تو که اندر ماتم فرزند
نباشد درد و رنج مادران را انتها مادر

* *

چه کس آخر تسلی میتواند داد مادر را
که «قدرت» رنگ می‌بخشد زخون خلق افسر را
گل امید مرد بیچاره مادر میشود پرپر
نشان فتح می‌بخشند تا سالار لشکر را

* *

درون سینهٔ تو آتش فریاد میسوزد
که درهرگوشه صدها شاخهٔ شمشاد میسوزد
به غیر از دست و پای کشتگان چیزی نمی‌بینی
چمن هیزم شد و در کورهٔ بیداد میسوزد

* *

بهشت سبز تو بازیچهٔ تاراج وغارت شد
تهی ازجستجوی علم و فرهنگ و مهارت شد
به حرف مفت آزادی فریبت میدهند هیهات
درین قاموس «آزادی» به معنای اسارت شد

* *

در این حمام خون تو سخن از داد می‌گویند
اسیر خسته در زنجیر را آزاد می‌گویند
دل خونین صدها مادر بیچاره را هر سو
به افسون طلسم خیره چشمی شاد می‌گویند

* *

نه دستی تا که پاک از رخ کند اشک خراسان را (*)
نه مردی تا که رسوا سازد این نیرنگ دوران را
به خون آغشته منقاد نواسنجان این گلشن
نه یاری تا که راند زاغ مست خانه ویران را

* *

←

(*) اشاره به قصیدهٔ معروف استاد انوری ابیوردی تحت عنوان « اشک خراسان » به این مطلع :

« بر سمرقند اگر بگذری ای باد سحر
نامهٔ اهل خراسان به برخاقان ببر »

نبات غزّ و قبچاق(*) است دامنگیر این گلشن
بخاك اما نخواهد خورد هرگز تیر این گلشن
اگرچه مست و مغرورند رندان قدح پیما
فرو می پائد آخر حلقهٔ زنجیر این گلشن

* *

همی آرد پیام صبح روشن را صبا روزی
که در پایان شب خندد طلوع جامهٔ زردوزی
سبوی ما ست ما لامال زهر بیکسی اما
بسوزد خانهٔ صیاد هم ز آه جگرسوزی

*

(*) اشاره به این شعر ناصر خسرو - قباد یانی :

" نبات پربلا غز است و قبچاق
که رستستند بر اطراف جیحون ،

پسرلی

پغمان ته

د غه ورانه هديره چې هديرې ورنه شرمیږي
د انسان د تهذیب پوړه پې په هر قدم پرې کیږي

د غه رنګې - د نګې مینې چې کومنکان وربانديې کړې
دا په وینو سوړ چې چې تپوسان وربانديې کړې

د غه کنډ - کپر کور ونه چې ژوندون ورنه ترهیږي
د غه وران - ویجار باغونه چې لوګی وسره لمبیږي

دا پردي یرغل وران کړي جوماتونه - منارې پې
چې بدل په سرولیږ شوې شړشره پې - فواره پې

دا پې شانتو - پې مچیو وران کندو مګر پغمان دی
دا هغه جنت د مخکې د کلونو کهکشاں دی

دا پغمان دی - دا پغمان دی د بنکلا د تنداسرو ځای
د دیوانو لښکر وران کړ د ارم د بناپیرو ځای

د کابل د نازولو د مستۍ او د ښادۍ ځای
د لته تاق د آزادۍ و تل دې وي د آزادۍ ځای

دا دره ده - دا دره ده چې نامتو وه په دره کې
دا پې ځای د هغه بن دی چې مشهور و په باغ کې

دا «تپه» چې تاسې دا وې سالو واله پښتنه ده
د ښایست په وړا راغلې د دې غرو نو میلمنه ده

دا د ګلو غرو په غېږ کې د ملکو پرنګه ځالې
د دنیا د پټ شملې وه بر له ستړو سترګو سیالې

د وحشي سړو سانو قهر ننه په وینو تکه سره کړه
راکټونو او بمونو ورنه جوړه هدیره کړه

لېونې شول - لېونې شول د وحشي طاقت توپونه
په راکټ ژوبلوي میلې په مرمۍ ولي کلونه

بیا به عشق کړي چېرې؟ وده؟ بیا به حسن چېرته خاندي؟
د موسکا احسان به چېرته؟ طبیعت ږدي په چا باندې؟

د ټینکونو سپېره پلونه خدایه ورک کړي په عالم کې
څه غوښل یې دی جوړ کړي د بدرګه باغ ارم کې؟

کور که ورانشي بیا به جوړ شي خیر دې وي - طاق ظفر ته
د افغان د فخر ځمنې د ملت د هغه سر ته

ای پغمانه ښ ای پغمانه !! هدیرې به دې کښته
د وحشت ځپلې حسن خاطرې به دې ساته

میرزاخیل پیښوری

د کارډوپز مشن

د ملل متحد نماینده بناغلی دیکو کارډوپز د افغانستان په شخړه د خبرو-اترو عمل ته د دوام ورکولو په غرض متعلقه فریقو څخه یو ځل بیا د صلاح- مشورې آغاز وکړو . د کال ۱۹۸۵ د می په وروستۍ هفته کې اسلام آباد ته په راورسیدلو بناغلی کارډوپز د خپل راتګ مقصد دا ښودلی دی ، چې هغه د امن او مفاهمت د تلاش د عمل د یوې جایزې اخیستلو او هم د خپل دغه مقصد د پرمختګ د امکاناتو د پاره د کوششونو پسې راوتلی دی . بناغلی کارډوپز نړیاته کړه ، چې هغه به د خبرو-اترو د موجوده چوکاټ د ننه د کوم پیشرفت د پاره هم خپل کوششونه جاري ساتي . بناغلی دیکوکارډوپز دا هم وویل ، چې د امن راوستلو د بنیادي مقصد د پاره مفاهمت موجود دی ، نوځکه هغوی به د امن تلاش جاري او ساري ساتي .

د دغه ساحې په موجوده دوره کې به هغه پریته د اسلام آباد نه کابل او تهران ته هم ورځي چې د جینوا د

فهرست

نمبر	مضمون	لیکوال	مخ
۱	تفسیر از آیات قرآنکریم	—	۳
۲	بل جهان	رفیع	۱۶
۳	ای مرد دوشمشیره !	فارانی	۱۸
٤	راسره وشهل	ساهو	۱۹
٥	اتل سربانه	شفیقی	۲۰
٦	سرودی برای مادر وطن	منگارگر	۲۲
۷	پغان ته	پسرلی	۲۷
۸	د کاروبز منشن	میرزاخیل	۲۹
۹	د بموبنو باران	غروال	۳٤
۱۰	مرور شهید	صمیم	۳۹
۱۱	لس میاشتنی ماشوم	رفیع	٤۲
۱۲	مجرایی	پسرلی	٤۸
۱۳	د مور غم	غضنفر	٦۱
۱٤	لندی	—	٦۹
۱٥	محاکمه	انځورګر	۷٤
۱٦	ګریستم	نیرو	۷٦
۱۷	د سلګو اختره !	نصرت	۷۷
۱۸	اختره !	خراسانی	۸۱
۱۹	زه غواړم چې ...	—	۸٦
۲۰	پټه ذهنیت	پاسنی	۸۸
۲۱	کتابهای تازه	شاهد	۹۱

خبرو - اترو د ځلورم دور د یوې پایلې تعین م وکړي د بالواسطه خبرو - اترو دا عمل د دېرو لوړو - ژورو او کرکېچنو حالاتو سره مخامخ دی ، ځکه اوس هم ددې د نتایجو په هکله کومه خبره په وثوق سره نه شي ویل کیدی.

څه وړاندې دمخه بنا غلی کارډوېز په خپله یوه انټرویو کې په دغه امر ډېر زور اچولی و، چې د هر سفارتي عمل څه ناڅه د ډیډلاین (DEAD LINE) ضرورت وي، مراد یې دا و ، چې د افغانستان په مسئله کومې بالواسطه خبرې - اترې روانې دي ، هغه دې د یو غیر متعینه وخت د پاره و نه ځنډول شي ، ځکه نو فریقینو ته په کار دي، چې د دوی وخت د ضیاع نه وړاندې باید د روغې - جوړې په خوا مخ په وړاندې کړي ، دا امر واقع دی چې د دغو خبرو - اترو آغاز په یو داسې وخت شوی و، چې صورت حال کله هم په خبرو - اترو د روغې - جوړې د پاره سازگار نه و ، علاقایي صورت حال انتهایي کشیده و ، روس عسکري حل غوښتو او امریکې هم روسته د زلک رسولو اراده کړې وده ، ولې د بالواسطه خبرو - اترو په وسیله وړو - وړو د روغې - جوړې د پاره زمینه تیاریدله د کال ۱۹۸٤ په پسرلي کې هم په دغه لړ کې د یوې انتهایي پر امیدۍ اظهار شوی و ، خو ناڅاپه بیا هم په دغو خبرو - اترو کې یو داسې تعطل پیدا شو، چې تر اوسه پې

لکه د وړاندې ماشومې د سر او پښې لا کوم درک نه لګي.

بنا غلی کارډوبز هم دغه ټعطل لرې کولو په مشن راغلی دی ، د هغه د کامیابۍ ا ټخمار په دغه خبره دی چې هر یو فریق دې د مفاهمت دروازې پرانستې وساتي او د تصفیې په کار کې د خندونو د لرې کولو په سلسله کې د بالغ نظرۍ او د لوی زړه حوصلې ثبوت وړاندې کړي خلق چې د پاکستان د کابل ثخه ښځ په ښځه په خبرو-اترو لګیا دي زوړ اچوي، دوی هم د خپلې د غې مطالبې له ټنټاټو ثخه نه دي خبر ، ځکه چې د افغانستان په مسئله د پاکستان موقف اصولي دی ، او دګروپې آزادې ټنړۍ د ضمیر ځیندګي کوي ، د دغه موقف نه د انحراف مقصد د دې نه سېوا بل هیڅ نه شي کیدی، چې پاکستان دې د کارمل ګوډاګي حکومت تسلیم کړي . یا د افغانستان په مسئله د خپل اصولي او اخلاقي موقف په پرېښودلو روسي نقطهٔ نظر دې خپل کړي، دا قسم خلق غولېږي چې پاکستان د روس تابع مهمل شي او نور هیڅ نه . د روسي حکمرانانو رویه چې د وړومبي نه په دې امید خبرو-اترو ته طول ورکوي ، چې ګنې هغه به له دغه مهلته د فایده پورته کړي ، چې د مجاهدینو د جهاد په زور ماتولو کې به کامیاب شي او د غه شان د روس د زړه کار به وشي . دوی ته خبره دا چې د دې خبرې به آخر ثخه ضمانت وي، چې کوم فریق د ملل متحده

او تهران تر منځه محدودې نه وي، بلکې خپله روس او افغان مجاهدین دې هم پکې شامل کړي شي او که چېرې د دوی تر منځه دکومې جامع تصفیې په باره کې اتفاق رأی وشي، نو بیا د یو بین المللی کانفرنس وبلل شي، چې افغانستان کې د هر قسم غیرملکی مداخلت د مخنیوي دپاره مؤثر کردار ولوبوي.



محمد عارف غرزال

د بمبونو باران

موږ په خپل ژوند کې دېر بارانونه لیدلي او د باران اورېدل مو د لوی او توانا خدای (ج) د رحمت او نعمت په توګه د وطن د آبادۍ او بنېرازۍ وسیله بللي دي او ورښتیا هم په کوم ملک او هېواد باندې چې د باران اورېدل وځنډېږي نو د هغه ملک اوسېدونکي له لوږې او قحطۍ سره مخامخ کېږي، خو له بده مرغه له اوو کلونو څخه را په دې خوا څه وخت چې زموږ د بنکلي هېواد په ویښه ورشو باندې د سره کمونو د ظلم، وحشت او بربریت برسېدلو خوښ شوه او د هېواد د چارو واګې سوېلي غلامانو ته په لاس ورغلې نو ورسره جوخت زموږ د بنکلي او سمسور هېواد په غرونو او ږغونو، کلیو او باندو، بنارونو او بېدیاو، باغونو او کروندو باندې د دغه خونړي وحشت د بمبارۍ لړۍ سوغاته شوه او دا هیله یې درلوده چې ګوندې دغه یې دفاع او تش کلۍ خو د ایمان په وسله سنبال ملت به په خپل د غه غیر انساني عمل سره ووېروي او دځان

تابع به يې وګرځوي ، مګر دوی په دې نه پوهيدل چې دغه مسلمان او قهرمان ملت د خپل ژوند په اوږدو کې هيڅکله په خپل هيواد کې پردي او د دوی غلامان نه دي منلي،بلکې د هغوی په مقابل کې يې ملي پاڅون کړی او له خپل هيواد څخه يې يا شړلي اويا يې د دوزخ تورې کندې ته لېږلي دي ، د دغو حالاتو په ليدلو سره د کريملين واکدارانو اند ښکمن شول او دا وېره ورسره پيدا شوه چې کېدی دوی مستقيم مداخله ونه کړي نو ډېر ژر به د دوی په کاسکېنول شوي غلامان له پښو وغورځول شي او د دوزخ تورې کندې ته به وسپارل شي ، څو په پای کې يې ورسره ببرک په ټانک سپوږ له څه دپاسه يو لک پوځ سره ژمونږ هيواد ته راوليږه ، خو کوم ګومان چې دوی کړی و هغه برعکس وخوت او د مجاهد او مسلمان ملت جوشيدلي وينه لا پسې په جوش راغله او د جهاد سنګرونو د کمزوړتيا پر ځای پياوړتيا ومونده له خو دښمن هم عرفه و ندکړه ، خپل هر ډول تاکتيکونه يې په کار واچول او خپله هر ډول مدرنه او دنې وسله يې استعمال کړه ، هوايي بمبارۍ نړيدلې شوې دا څکه چې په څمکنيو عملياتو کې د دوی وحشي لښکرې له سختې او پرله پسې ماتې سره مخامخ شوې ، چې البته د دغو هوايي بمبارۍ لړۍ اوس هم روانه ده او وېرځ يې په شدت سوې.

نه خپلې سيمې ته تللی وم او غوښتل مې څوشپې له خپلو

مجاهدو وروښو سره د جهاد په ستګرۍ کې ټاټوبي کړه، البته زموږ کلي چې د ځانګې میدان د ولسوالۍ په شمال لس کیلومتره کې پروت دی او شپږ یې خلوېښتو کورونو ته رسیده، هم د دغه هوایي وحشي بمبارۍ په نتیجه کې په کندوالله بدل شوی او اوسیدونکي یې مجبور شوي دي چې د ځانونو د بچ سائلو په غرض په غرونو کې سخې او غارونه جوړ کړي تر څو له یوې خوا د جهاد په سنګر کې پراته پاتې شي او له بلې خوا خپلې کورنۍ او ځوکې وکړلې شي، که څه هم ما نه غوښتل چې خپل په کندوالله بدل شوی کلی په خپلوسترګو و ګورم، ځکه زه پوهیدم چې د خپل ښکلي او سمسور کلي کندوالله لیدل به مې نور هم وځوروي، خو د خپل مشر وروښو مجاهد کلاب‌خان بیا-بیا ویلو دې ته مجبورکړم چې د خپل کلي په ویجاړو کندوالو وګرځم، موږ د نیایي کلي کندوالې لا نه وې لیدلې چې د سره ښکېلاک وحشي جټ بمبر غورزوونکي الوتکې راورسیدې او د دغه په کندوالله بدل شوی کلی یې د دولسم ځل له پاره بیا تر سختې بمبارۍ لاندې ونیو، زه او نورما مجاهد ملګري په کندوالو کې سره تیت او پرک شوو، زه هم په یوه نیمه ورانه کندوالله کې کښناستم، قلم او کاغذ مې راوخیست او د بمبونو د باران په نامه مې په دې هیله د نظم په لیکلو پیل وکړ چې که چېرې د هدې بمبارۍ په نتیجه کې شهید شم نو دغه نظم به د

یو یادګار په توګه رانه پاتې شي ، خو د لوی خدای (ج) فضل و مونږ ته د سر تاوان و نه رسیده او ما بیا دغه نظم بشپړ کړ چې د جهاد د سنګر د یادګار په توګه یې خپلو مجاهدو او سربښندونکو وروونو ته اهداء کړم :

د بمونو یاران

په وطن مې ننګ راغلی یو وحشي شانته دورانددی
کور مې پروت دی لوڼې-لوڼې د بمونو پرې یاران دی

*

زه وتلی یم میدان ته قربانی مې وظیفه ده
په پښتون زړه کې ځای شوې، خدایږو مینه پښتنه ده
د ایمان په زور جنګیږم د الله خپل دین ته قربانیږم
بس د خدای په مینه ست یم، عقیده نما وسله ده

ځکه ننګ مې قربانۍ ته حیران پاتې درست جهان دی
کور مې پروت دی لوڼې-لوڼې د بمونو پرې یاران دی

*

خیر که وران مې کلی-کور شي خو سلام دې راسره وي
چې د خدای حضور ته ځه دا انعام دې راسره وي
زه ترهغه به جنګیږم څو چې سترګې مې غړیږي
چې تاریخ پرې افتخار کړي دا پیغام دې راسره وي

ټینګ مې هوډ دی ټینګ مې عزم، ټینګ په زړه کې مې ایمان دی
کور مې پروت دی اوبۍ- اوبۍ د بموبنو پرې باران دی

*

ننۍ نړۍ بنکلې وطن ته که راغلې سره خرسان دې
که په سرو ګلو کې شوې ننۍ بدمخې بیدکارغان دې
دا به هضم چېرې نه کړې دا میراث د شاه زلمو دی
دلته یوځ پاخیدلي، پاریدلي شنه زمریان دې

قربانۍ ته راوتلې ننۍ له څېرې ټول افغان دی
کور مې پروت دی اوبۍ- اوبۍ د بموبنو پرې باران دی

*

دلته هرچې سمسور دی، دلته هرځوان میړه میندان دی
دلته هرکلې لېچ کړې په ډهرې مشرخوشال خان دی
د هرځوان منډې زور دی، د هرځوان په سرکې شور دی
هرسنګر په وینو سور دی، په درز احمک آسمان دی

«غروال» سرکاس کې نیولی مخ په وراندې ځي روان دی
کور مې پروت دی اوبۍ- اوبۍ د بموبنو پرې باران دی.

محمد آصف - صمیم

مرور شهید

« دا غلي - غلیا، شومه دم، تورتم او دا بربنده وهانګی!!!؟
دا په سپین وهنګن خت (کمیسه) کې نغښتې... !!! ؟
دا بوږنده اند ښکې او دا دومره هیبت !!! ؟
آخر دا څنګه او څیرکوم رنګین امتزاج دی، او که کوم
پټلی حقیقت چې تحلیل پې د احساس د مشوهې سترې رانه
اغږ کړ .
دا څه ویم ؟ خوب که ویښه ؟!!! »

زما پر شونډو لا د هدفې پوښتنې بنکالو خپره وه، چې هغه
په جنتي جامو کې نغښتې پرېښتې، نه ربښتیا تږوتم، پرېښته نه
د پرېښتو مسجود انسان، پر خدایۍ او مخلوق مین ننګیالی او غیرتي
سرښندوی شهید، چې د خدایۍ د ترکلمه کړې رضا ښنو - ښنانو
پې پر مخ چوپلکونه خوښول - سر را اوچت کړ، او په یوه غرور -
زېږوونکي انکازن مهتر آواز پې مخاطب کړم، ویلې :

زه دې لکه چې ونه پېژندم ؟ فکر دې رامانده ونه رسید ؟
هو ربښتیا ! ته به ما ولې پېژنې، زه او ته خو هیڅ سره نه

تفسیری از آیات قرآن حکیم

بسم الله الرحمن الرحیم

فاذا لقیتم الذین کفروا .....

۲ – آزمایش افراد مؤمن : خدای جل جلاله سیر ایمان را پرخم و پیچ وسلو از فراز و نشیب ها قرار داده است که با تحمل متاعب و مصائب می توان طی کرد. درهرخم و پیچ این راه مواجه شدن با ارعاب وارهاب دشمن است، خوف وخطراست ، عقبات ومرارات است که عبور پیروزمندانه ازین عقبات قربان مال وجان میخواهد وارادهٔ پولادین تصادم با خطره .

قرآن حکیم درین باره می فرماید :

• ولنبلونکم بشیءٍ من الخوف والجوع ونقصٍ من الاموال والانفس والثمرات ، وبشر الصٰبرین • الذین اذآ اصابتهم مصیبة قالوا انا لله وانا الیه راجعون • اولٰئک علیهم صلوٰت من ربهم ورحمة و اولٰئک هم المهتدون • (البقره : ۱۵۵ - ۱۵۷)

• وحتماً شما را به چیزی از خوف ، گرسنگی و نقصان اموال و انفس و حاصلات بیازمایم و بشارت ده صابران را - آنانکه چون مصیبتی بایشان برسد گویند : ما آنیم از خدائیم و حتماً بسوی وی (ج) برمیگردیم.

کيږو ، کنه ؟!!!

ما به پې له خاموشۍ نور څه ويلای شول ، له خمکې غږ خوت او له ما نه نه .

اخلاقاً پې زما د سکوت او ارپانتيا د دنيا نه ورانولو راته جوته کړه ، چې هغه چېرته او له چا نه زده کړه کړې وه؟ ځان پې په خپله په خوب راکو اړ وليد ، ويلې :

زه !!!

زه خو له هغې راسې ستا همغاړی اوهمسنګر يم ، چې خدای مو دښمن يو کاوه ، زما او ستا وينه له هغې وړځې نه يوه وه ، چې رګونه جوړيدل او سره بهليدل .

غمونه ، دردونه او ارمانونه مو له هغې راسې سره شريک وو چې مسوولیت او تعهد وېشل کيده .

زه او ته خو لا پر هغه وړځ د يوه فطرت څښتان وو چې اروا وو مو « الستی بربکم » په اثبات خوابوله .

همدغو او پې شېبه داسې نورو وجوه او عواملو دې پې سره د توحيد په مرغلين مزې تړلې يوو .

زه همدغو جوتو آرونو او اصولو پر دې مومن کړې وم چې شهادت د خدای مينې ، ښېرتيا او پر ځمکيا پې (متعالی) ورتې پاتکی دی ، ځکه مې پر دې نامغلوب او ښويدلې ژوند ورته ترجيح ورکړه .

زه پر تا او پر خپله ټولنه د خپلې کړې فريفته احسان او زيات

نه کوم ؛ خو خدایٔ مې شاهد دی، چې ما ستا او د خپلې خوښۍ لې او ربړ پدې ټولنې د وګړو د سوکالۍ او ژوندنې سمون له پاره خپل ارمانونه لوګی کړل .

ما ستاسې د سیاسي، اجتماعي او معنوي خپلواکۍ د تړلاسه کولو له پاره له خدایٔ سره د بیا-بیا ژوند او بیا-بیا شهادت خبره پخوله ، ما ویل: څه که زه د دغه ستر ارمان په تر سره کولو کې خدای مه کړه پاتې راغلم ؛ نو تاسې به زما د وینې او مینې د وارثانو په توګه زما نیکمرۍ ارمان پوره کړئ ؛

خو !!!

څه خبر وم چې زما وارثان به زما په وینه داسې خه پېرې، چې ما او زما د کارې کارویې پرې لا له ازله کارې تو کړې وې ،

نو !!!

په دې خواشینۍ او نه زړه له ناکامه وایم، چې :

زه پې چالره وهم قدر پې چا زده
په اور وسوځه دا توره پې قلمونه

او چې ستر کې مې وضر ولې ؛ پوه شوم چې ارواوې مو مخالفې وې .

۱۳٦٤ ، ۲ ، ۲۸
۱۸ ، ۵ ، ۱۹۸۵

ح، رفیع

لس میاشتنی ماشوم

د «ویس جان» د شیدو په قطی کې یوازې د یوې ورځې شیدې پاتې وې ، نن سهار چې دفتر ته روانیدم نما له هغوري کاسوښو نه یو هم مازیګر ته د ماشوم له پاره د شیدو راوړلو..

غرمه مې په دفتر کې د ډوډۍ د خوړلو په بیړه باندار ته ووتلم ، د زړه غوښې میدان له دوکانونو نه مې د «موریسنا ګا» شیدو یو قطی واخیست او بېرته د دفتر ته راغلم ، یوه نیم-دوې یېچې به شوې وې ، ما په دفتر کې خپل کاروته کول ، په دې دفتر ته دوه تنه شیک خلکان راننوتل ، سلام یې واچاو ستړي مشي مو ورکړل او بیا یې وویل :

-خورجانې موږ له تاسره یوځه کار لرو ، ته به لطفاً له موږ سره د کورنیو چارو وزارت پورې وګډه شې!

نما ښه ولوېد خو حواس مې بایللودل ، د مېز له سوک نه مې خپل دستکول راواخیست او له دې سره مې دشیدو په قطی هم نظر وښښت ، هغه ته مې هم بې اختیاره لاس کړ او دوی ته مې وویل :

- دا د ماشوم شیدې به مې هم راسره راواخلم چې بیا یې کور ته راسره یوسم !

دوی په ډېره مهربانۍ وویل :

- هو ! هو ! فقط د څو دقیقو کار دی !

زه ورسره راووتلم ، دوی د یوه جیپ خوا ته ولاړل او ماته یې د سپرېدلو اشاره وکړه ، په جیپ کې کښېناستو او څو شیبې وروسته د کورنیو چارو د وزارت انګړ ته ورننوتلو ، هلته یې یوې کوڅې ته بوتلم ، وسله والو څارونکو ته یې سپارلم او بیا دوی دواړه ووتل ....

زه یواځې ناسته وم ، دقیقې په ساعت واوښتې او له ساعت نه خبر ساعتونو ته ورسیده خو زما پوښتنه چا و نه کړه ، مایتام شو ، ماخوستن شو ، زه اند پښتنو لاندې کېږې وم او په ډډ کې مې یو ځل ستړګې د شیدو په قطې ومومیتې ، د قطې دپاسه چې مې د ماشوم عکس په ستړګو خوښ- خوښ ولګید ، زه به چې بنسه ورته ځیره شوم ، زما لس میاشتنی ویس جان به ترې جوړ شو ، خوله به یې خلاصه کړه ، راته په خندا به شو ، ژبغړانده به شو ، په خوږه ژبه به یې د « مول ! مول ! » چیغې راته وکړې او له دې سره به مې بیا په ستړګو تیاره شوه ، د ګلوڼې تور دېوالونه به راته بلا- بلا شول او د راتلونکي متوړ سرنوشت وېرې به لاندې کړم ، دا دول صحنې مې څو- څو ځل

تر سترګو تیریدلې راتیریدلې ....

تیر ما خوستل د روانې د خلاصه شوه ، دوه کلاشینکوف-
والا منصبداران سرانوتل او ماته یې په توندې لهجه وویل :

- راځه !

زه هم راپاڅیدم ، دستګول او د شیدو قطی مې راواخیستل
په اوږده دهلیز کې تر تیریدلو وروسته یې یوې کوټې ته
بوتلم ، هلته څو تنه برېتور ناست وو ، که څه هم ما
پېژندل نه خوښکاریدل داسې چې د داخلي وزارت
لوی-لوی خلقیان وو ؛ د امنیه قوماندان « تروون »
خپرې ځکه آشنا په نظر راغله چې په اخبارونو کې مې یې
عکس د ډېر-ډېر لیدلی و ....

د وی م په ډېره مهربانۍ په څوکۍ باندې دکېناستلو
راته وویل ؛ په څوکۍ کېناستم ، د چای پیاله مې یې مخې
ته کېښوده ، زما زېړه چای چېرې اخیست خو د دوی
په ځیات اصرار مې پیاله پورته کړه ، ما لا پیاله نېمایې
کړې منه وه چې یوه تن یې مخ راواړاوه او په ځیشدار ه
لهجه یې راته وویل :

- بښه! ته هم اشراړه یې ! ته هم ځواړې چې د څور د
په شا نه تلونکي انقلاب په مقابل کې تخریب وکړې ....

ده لا خبرې نکړې چې یوه میل یې خپرې ورغوښه کړه
او ماته مخاطب شو :

- خیر هرڅه چې دې کړي ، ته سیاسره یې ، موږ د سیاسرو احترام کوو ، څه نه درته وایو خو ته به خپله د همکارانو حلقه رابنه وینې او بیا به موږ تا شپه په شپه خپل کور ته ولیږو ! ....

ما پیاله کښوده او په سنجیده لهجه مې ورته ووویل : زه اشاره نه یم او نه د همکارانو حلقه لرم !

له دې خبرې سره مې یو ډروند سوک په خوله حواله شو او خوله مې له وینو ډکه شوه ، لږ څه لیږې ناست بربنتور راپاخید ، له وېښتو نه یې کلکه ونیوله ، سر مې یې په دېوال وواهه ، څو-څو ځل یې مټر وېښتو کش کړم او په دېوال یې ووهلم ، بې اختیاره مې له خولې نه د فریاد او ژړا چیغې راپورته شوې او بیا په ځان و نه پوهیدم ....

سمدلاسه ته چې په هوښ کې شوم نو ځان مې خوښید او نو د وجود مې بدلون - توپه و ، شاا و خوا مې وکتل ، هاغه لومړنۍ کوټه وه چې ښه ورته راوپېژنده شوې وم خو د دستګل او خصوصاً د شیدو د قطی چې په عکس کې بدلون مې پې د خپل ماشوم زوی څېره لیدله ، پته نه وه ....

پوره یوه هفته مې په هډې کوټه کې تېره شوه او په دې موده کې یې دوې شپې نوره هم د شکنجې له پاره بوتلم او په وهلو سره بره یې د برقوبنو سخت تکانونه هم راکړل ....

د شکنجې په نولمه دوره کې زما خبره یوه وه :

ـ زه څوك نه پېژنم ! زه د فعالیت کومه حلقه نه لرم !

تر یوې هفتې ورځې پورته یې یوه ورځ په تور موټر کې وایستلم ، موټر بنه نرمانه کاره ووهله ، له موټر نه یې چې بنکته کړم ، څرګنده شوه چې زه یې د ځرغې پله زندان ته راوستلې وم او د دې زندان په لومړي بلاك کې یې د بنځو برخې ته بوتلم !

کوې کوتې ته یې چې زه بوتلم ، هلته د یوې کلیوالې کورنۍ بنځې او ماشومان هم بندیان وو : یوه خواښې ، یوه نږدې ۴۰ کلنه ـ نیم قد ماشومان او یوې هم د نږدې په غېږه کې یو کوچنی ماشوم و ، مایې چې پوښتنه وکړه هغه د لسو میاشتو و ، د ماشوم په لیدلو سره مې یوځل بیا رانه ښه شوی ویس جان را یاد شو ، بې اختیاره مې کاس ور اوږد کړ او ماشوم مې له زړه سره ټینګ کړ ... ویس جان چاغ او سور و سپین ماشوم و ، دا ماشوم د مخکړ او زېر زېښلی و خو یوازې لس میاشتنی توب و چې ما به د ویس جان مینه پرې ماتوله ....

له دې مظلومې بندي کورنۍ سره مې د ډېرې شېې ټېرې شوې ، زما د پوښتنې په مټ ځې ځرګنده شوه چې په دې کورنۍ کې یوه ځوانه پېغله هم وه چې د دوی د کلي یو خلقي ټرې خوښته خو دوی له دې کبله چې هغه کافر دی او د خدای او وطن دښمن دی ، دا ښکلې نه ورکوله ....

یوه شپه ناڅاپه د دوی کور محاصره شو ، د کورنۍ لوی او واړه یې په ټانکونو کې واچول ، ټولې یې له ځان‌سره بوتلې او پاتې کورنۍ یې د ځرغې‌پله زندان‌ته راولېږله....

د کورنۍ کوچنی ماشوم د غذایي کمښت له امله وسرځ په وسرځ کمزورې کیده ، د مور یې هم شیدې‌کیدلې یوه وسرځ ډېر اوکه و ، مور یې تې ته واچاوه خو په یې نه درلودې چې ویې سروي ، زما کاسونه یې اختیاره وس اوښده شول ، راوا هې خیست ، په غېږ کې مې واچاوه او خپل ق مې یې په خوله کې وسرکې ، وسته کتل مې ویس جان راته تږې جوړ شو ، راته په خندا شو ، راته ژبغړاند شو ، په وړه ژبه یې د « مول ! مول ! چیغې راته وکړې ! ....

په دې کې مې غېږه درنه شوه ، د ماشوم خولې د تې‌کش‌کولو توان له‌لاسه وسرکې او خوله یې زما په تې پوسې وچه شوه !

« پای »

پسرلی

مجـــرایی

حاجی غلام او حاجی حیدر علاوه پـر دې چې دواړه حاجیان ، سپین‌زیري ، لوستي ، شته مـن او متقاعد ماموریـن وو ؛ د دواړو کورونه هم د کوڅې په منځنۍ برخه کې څنګ په څنګ واقع شوي او یوه د خټو دېوال یې د کورونو غوڅ سره وېشلی و ، خو له بده مرغه د دوی په منځ کې څه تـوره پیښه شوې وه یا چاکومه تـوره کښتـو تېره کړې وه ، دومره سـره وړان وو چې که له خلکو نه شرمیدای یو د بل سیوری به یې په پټوپک وېشت ، تا به ویل چې دوه بڼې دي یا یې دیوه پسه سترګې سره خوړلې دي .

چې له یوه حاجی سره به دې وکتل له سلامو علیک وروسته به یې حتماً د بل حاجی د بدیو د نه تمامیدونکو داستانونو لنډیـز دراوړو ، چې د بل سره به د کارې په سر ودریدې ، نـل د کلي وروړو و ، هغه هم په شکوه او شکایت کې مټر ده ببرته نه پاتـه کیده ، د خپل رقیب

به يې درته ټول دوړه کـړ .

حاجی غلام له وئې ټيټ ، له ځانه ووړ ، دګډوڼو يې اوږې ښيرې خاوند و ، هرڅه حاجی حيدر په وړه نسبتاً جاړ ، د ټنګو - ژورو ستړګو څښتن و ، د ده عمر به هم دغه د شپيتو کلونو شاوخوا و ، خو هره ورځ يې په مخ کاس راتېرا و او په مخ يې د وېښته ډکې راپورته کيدو ته نه پرېښود .

حاجی غلام ټوکې ، خوش طبعه او ځوان خصلته ښوپا - او حاجی حيدر ظاهراً موقر ، متريو - ترينګلی او ځان ته په يوه حيثيت قايل انسان و .

حاجی غلام به ويل : انسان ته ښه خلق ، پراخه ټنډه او ښه وضعه په کار ده ، دا څه معنی لري چې سړی دې په ځوانۍ کې خوش طبعي کوي او په سپين ږيرې توب کې چې د عقل د کمال او پخټن دوره ده ، له ځانه د عذاب ملګه جوړه کـړي ، متريو - ترينګلی کـړئې ، سمه او پسته خبره عار کـوئ ؟ آيا متروه ټنډه او بد خلقي د هوښيارو کار او د سپينو معيار دی ؟! ....

حاجی حيدر به ويل : له کوچنيوالي متر ځوانۍ ، له ځوانۍ متر زړبوډی ، له زړبوډی متر کله ؟! وايي هندو زوړ شو - مسلمان نه شو ، حاجی غلام بد بخته نه له خپلې يوه لوېشت سپينې ږيرې شرمېږي - نه له يو ګورم لوېنو ، زامنو او نه د حج له پاکه نومه حيا ورځئ ، اوس هم په کاسو - کوڅو

این گروهیست که از سوی پروردگار بر آنان درودهاست و رحمتی، و ایشانند راه یافتگان » .

اگر افراد مومن در اثنای آزمونهای مالی وجانی و در مواقع مواجهه شدن با خوف وگرسنگی ، شکیبائی می ورزند ، از مقدرات الهی راضی اند ، خود را یکره بری(ج) حواله می کنند طریق قربانیها وشهادتها را طریق رسیدن به جناب او(ج) میدانند خدا(ج) آنانرا ازجانب خود درودی ، به رحمتی وبه هدایتی نوید می دهد ، بر آنان درود می فرستد . رحمتش را شامل حالی می سازد و بیشتر ازین به هدایت و رهنمائی آنان می افزاید چنانچه در مورد بنی اسرائیل می فرماید :

« و تمت کلمت ربک الحسنیٰ علی بنی اسرائیل بما صبروا و دمرنا ماکان یصنع فرعون و قومه و ما کانوا یعرشون ، الاعراف (۱۳۷)

« و وعدهٔ نیک پروردگار تو بر بنی اسرائیل به اتمام رسید بناء برانیکه صبر نمودند و آنچه را فرعون و قومش ساخته بود و اینچه را که برمی افراشتند سرنگون کردیم » .

در مورد ابتلای ابراهیم (ع) می فرماید :

« و اذ ابتلی ابراهیم ربه بکلمٰت فاتمهن ط قال انی جاعلک للناس اماما ط قال ومن ذریتی ط قال لاینال عهدی الظلمین ۔ (البقره (۱۳۴) .

« و آنگاه که ابراهیم(ع) را پروردگارش به سخنان چندی بیازمود، پس آنها را به اتمام رساند گفت(خداوند ج) ، که من حتماً گردانندهٔ تو امام پیشوا برای مردم و ابراهیم(ع) گفت - و از اولادهٔ من نیز ، خداوند جل جلاله فرمود : عهد من به ستمگران نمی رسد » .

کې له هر چا سره ځای - پې ځایه خاندي ، ټوکې - ټپکالې او سل ډول مسخرکي کوي چې د نورو حاجیانو پـوزه وربانديې پرې کیږي .

د حاجی غلام کـره د یارانو - دوستانو او خپلو - خپلوانو تلې - راتلې ډیـر و ، هره شپه به پې حجره له میلمنو ډکه وه ، هغې چې حاجی غلام په خبرو - اترو او ټاسته - وکړه کې پې تکلفه انسان و - د غې پې په میله پالنه او لږه - درشه کې تکلف نه خوښیده ، ساده ژوند او ساده کار پې خوښ و ، که به وچه وه - که لنده، تیاره ډوډۍ به پې د یار مخ ته ږدوله .

د حاجی حیدر بیا له هرچا سره نه لګیده ، چې کله به پې په شپو - په ورځو کې ځوک خاص میله د حجرې په ورځ ورځنوت ، تکلف او تعارف به پې له حده ورته تېر کـړ .

حاجی غلام به ویل : سړی هغه دی چې له یار - آشنا سره په ناسته - پاسته کې د یو رنګی او سادګی مراعات وکـړي ، هغه ځوک چې مخامخ له سړي سره ډیـر څټي په زړه کې غل دی او هغه چې میله ته ډیـر ښکته - پورته کیږي او په ډیـر تعارف میله په زړه کې وهي د میله دښمن دی .

حاجی حیدر به ویل : متل دی چې وایي « د میله ځواب

پاتې دی». ځوك چې په خپله د قدر او عزت وړ نه وي د بل په قدر او عزت څه پوهيږي ؟ سړی بايد له معمورې خلکو سره راشه - درشه وساتي چې وي پالي، نه داسې چې لکه بې موره وړی تر هرې مېږې لاندې وتې وي؛ هر ځوك کاله ته بيايي خو د مېله پالنې زړه او د ماغ هم نه لري .

د حاجی غلام کمن اولاد و او د ده په خپله هم يو سر او سل سودا وي ، زامن يې ليږ څه بې سره شوي وو چې ليدل به دې په کوڅه کې که کوترې وې - دده زامنو به ساتلې ، که به کاغذ پران و - دوی به الوزولی و ، حتیٰ که به د ماشومانو جنګ - جګړه وه - هلته به هم د ده يو - دوو زامنو غټه برخه پکې لرله .

د حاجی حيدر کور ټول او اولاد يې نسبتاً ليږ و بس دوه زامن او دريې لوڼې يې لرلې چې پنځه واړه به بنووڼيو ته تلل .

حاجی حيدر به ويل : يو سړی چې د خپل اولاد د ور ټولولو نه وي او په لوڼو - زامنو يې کوڅې د کې وي د هغه يې له مشرۍ سره څه ؟ بد کوي چې د مشرانو په کتار کې کښيني . خو اصله خبره دا دده چې حاجی غلام سپك سړی دی ، که دی سپك بنيادم نه واى اولاد به يې نه بې کاره کيدل .

حاجي غلام به ويل : نارينه خداى په لويه ورځ پيدا کړي دي ، دومره عيب يې نه شته - که هلکان يا زلميان په باموټو وګرځي ، که په کوڅو کې سره ورغړوي ، که څه مستي يا ببياکي هم وکړي . د بنځو مسئله مخه ده - پښتون به وي ځان ته به حاجي وايي ، د سپين ږيرتوب دعوه به هم لري خو چې ګوري به يې دوه جينکې به يې نه وي وربانديې خوندي ، چې لوبه يې سهار د مکتب په پله له کوره ووځي - بيکا به راځي ، بې غيرته انسان به د لوبو بشوروا ته ورې کړي وي - چې هغه ورته مامورانې مديرانې شي ....

د دواړو حاجيانو خولې داسې بشويه شوې وې چې که به مخامخ و - که پس شا ايرغندې - تيرغندې اوسل ريښتيا درواغ به يې يو په بل ورټېل ، دومره سره وران وو چې په يوه جومات کې به يې ټپه نه سره وهله ، يو حاجي به د کوڅې بر جومات ته روان و - بل به يې کوز جومات ته .

د حاجي غلام له بشاره يو - دوه کيلو متره لرې باغ او څه مخکه و ، اکثر به سهار وخته د باغ په لور وکاږه ، تر مازديګره به کوڅه او د کوڅې مخه حاجي حيدر ته خوشې وه ، حاجي حيدر به يو - دوه چوکۍ راايستلې وې ، د کور مخ ته به د ودې يا د ديوالې سيوري ته ناست و ، د حاجي - غلام په غيبت به يې د خولې خوند بشه کاو .

حاجی غلام یو مست هنکی خر واخیست، چې په تلو راتلو کې ورباندې هوسا وي، چې مازدیګر به ببرته راتلو نو څه وابنه به پې هم ورباندې اړولې و.

حاجی حیدر ته خدائ ورکړه، په پله به پې دخره په خاوند پورې خندل. خو خندا پې ژر په قهر او ځور بدله شوه، چې حاجی غلام د خره موښی د حاجی حیدر د کور خواته تلې واهه او صرف یو دیوال د خره او حاجی حیدر د خوب د خوږې نرۍ منځ وکاږو، د خره په وخت او بې وخته هینکارو به د حاجی اعصاب ځړیکیدل، چې له یوې خوا به د خره هینکارې شوې، له بلې خوا به حاجی حیدر راپاڅید او چې څه بدې ردې به په خوله ورتلې. چوسه پې نه کوله، شپه به پې له خرۀ سره مقابله وه - دوستې به پې په کوڅه کې ویل: د خره له خره سره جوړه وي او د سړي له سړي سره. که حاجی غلام سړی وای. ځوک هم په بنار کې خر ساتي؟ ګکوري دومره احمق او مضر دی چې د همسایه کانو خوب او آرام پې ورڅخل کړي دی؛ آیا دا انسانیت دی؟!....

حاجی غلام به ویل: د نورو پې له نورو - د موښک پې له بنې، د حاجی حیدر سیال زما خر دی، د هغه سره پې تربور کلوي راخیستې ده، چې زما هنکي ته دلته هنک ورشي - د حاجی حیدر ستوني کور و ځنیږي، خر

له دې خوا ورته هنګيږي ، دی ما خوا ورته غوږيږي دی چې د خره له نارو دومره بد مني. دخره په ژبه خر پوهيږي بنايي څه به سره وايي ، زه به يې څه کوم چې دوی سره سيالان دي او دی له خره سره څان برابر وي ....

يوه ورځ چا حاجی غلام ته وويل : څه به وشي چې ددې خره له بنو ټبرشي ؟! خر وښو ته سائل او وابنه خره ته راوړل د بې کارو کار دی. علاوتاً د همسايه کانو تکليف هم بايد په نظر کې ونيسي ....

حاجی په شوندو کې مسک شو ، ويې ويل : نو که ربشتيا راباندې وايي ، خر هم صرف د حاجی حيدر له پاره سائل دی ، زه ورته آرام خپل خوښوم ، دوی دوه يې سره شاربی ، دخره خواب هم خر ورکوي ، وګورو چې کوم يو خوږوس شي ؟

* * *

چې ورځ به وتله ، د حاجی ما جانو د روغې- جوړې امکانات کميدل ، د خره هرې هينګارې به د دوی د بدی او مخالفت تاو نور هم زياتاو . د حاجی حيدر زامنو به ماز ديګر مهال کار دومره چيکر اوپاشي کړې وه چې د حاجی غلام خره به تل تودود پکې وهله او اکثر به يې وابنه غوږ زولي وو. علاوتاً کله - کله به يې د کوڅې

خپلې بسیلو ماشومانو ته څه منلي وو، چې سمدلکه حاجي غلام په خره سپور کلي ته ځي، یو موټ خوزان پې د خره شا کې کاندې کېږدي، چې خر مه په خرلچو شو، حاجي به شاته وکتل، د کوڅې ماشومانو به هر لور ته منډه واخیستله. په دې توګه د وېرځې په ځای د حاجي حیدر بېرې و، د شپې له خوا د حاجي غلام. همې هم د دواړو حاجیانو غاښ چیچې لیږي نه و چې د خره لاګوبنې پکې هیکارې ختلې او د دوی سوړ جنګ پې په خپل خوږ وونکي آواز مخ په تودیدو رهبري کاو.

* * *

چې کله حالات بدل شول او د ثور انقلاب (۱) د زېږدانونو وروسته بېرته کرل او له جنایي مجرمانو پې تورې خوڅې سیاسي کښکارانو او د سیاسي مجرمینو په نوم خلقیانو څخې مخالفینو ته خلاصې کړې، حاجي حیدر په لټه کې شو چې له خلقیانو سره ځان وښلوي، خو ځکه چې سپین ږیرې، حاجي شته من او په عین حال کې د لماځې - اوداسه کلک پابند و په هېڅ ټوګه د ګوندو په چوکاټ کې جوړ نه راتلو، مجبور شو زامن او لوڼه پې حزبي ساز مان ته واستول، چې خو میاشتې تېریدې، اتفاقاً د ده یوه لور د کوم غټ دولتي مامور خوښه شوه، چې طلبکاران پې وروا ستول، حاجي په خلقي اومترقي روحیه یوه - دوه هم پکې نه وویل، ځکه پې مالکه ورکړه، دې-

څلورمه واده .

دې خپلوې یې په حزب کې د زامنو موقف اوچت کړ په ټولنه کې د ده په یوه اشاره ډوغ کوروونه پرنګیدل او په یوه خواهش یې له وسلو سره نیول شوي خلاصیدل .

حاجي غلام خواږه به له ډاره هره ورځ سل ځلې «قل هو-الله» چف کوله ، حیران پاته و ، چې دا څه ټوکه وه چې وشوه ؟ اوس یې نو که حاجي حیدر ښه وویل - که بد ده په خپله خوله پاستې اچولې وو ، خیر یې په خاموشۍ کې لید ، په یوه-نیمه پټه اشاره به یې هغه هم معتمد یار اشنا ته ورښود ، نور یې هیڅ هم نه ویل .

د حاجي حیدر د کور د مخې چوکه ژیاتې شوې، پارلمنټ د وستانو په هره ورځ خپل احترامونه وړاندې کول او د داد خواهانو شپږ ورته مخ په زیاتیدو و ، په اوله کې به ده له یو-نیم سره سر هم خوځاو ، خو وروسته- وروسته یې د مسوولو مامورینو غونډې په مخ د سپې پوست غوږولې و ، هیڅ څواب به یې ورکاو ، حتیٰ ځینې به یې ترتڼ او سپکول هم ، د کور مخ ته یې لنډه پاچهي جوړه کړې وه ، یوه ورځ له څو ټنو سره ناست و ، په ورځنیو پیښو برغیدل ، حاجي د مترقي دولت پښکنجې ورته شرحه کوله ، هغوی له مجبوریته هو- هو ورته کول ، په دې وخت کې د حاجي غلام خړه هینکارې کړې ، حاجي حیدر ته قهر

ورغی ، زوی یې ورواستا و چې په منډه حاجی غلام راوله .

په دوه ملتړه کې حاجی غلام خوار د حاجی حیدر میزته ودرول شو ، حاجی حیدر نه وړه- نه راوړه ، سم-سیده یې ورته وویل : حاجی ! سړی نه شوې ، نه دې خر ورک کړ ، نه دې د خره خوله ورپټه کـړه ، دا ځل اخطار درکوم ، که دې تر سبا دغه مهال کـوڅه له خره نه وه خلاصه کړې د پلچرخی زندان به دې ځای وي .

حاجی غلام ورته وویل : چې په تا زما د خره آواز دومره بد لګیږي آسانه خبره ده ورک به یې کړم ، همسایه په همسایه دیـر حق لري ، خـر لا څه دی بلا دې په خره ولګیږي . . . .

حاجی حیدر ورته وویل : همسایګي دې له ښـو سره پاته ، زه خواهش نه کـوم ، زما قاطع امـر دی ، پـوه شوې- کـه نه ؟!

هغه ورځ د بازار ورځ وه ، حاجی دستي خـر روان کـړ ، په کاره کې چا وپوښت : حاجی صاحب ! چـیرته له خیره ؟!

حاجی په ترخه خندا ورته وویل : په ځنګله کې دوه زمري او په کوڅه کې دوه خره نه ځایـږي ، نو کمزوری یې هجوم دی ، چې زورور ته میدان ورپـریـږدي .

حاجی خـر خرڅ کـړ ، خو بیا به هم هـره ورځ په یوه

نه - يوه پله ورغوښتل کيدو او سپکيدو، د عذاب شپې - ورځې وې چې ده خوار به ټيرولې او زغلې يې، چاره يې نه وه ، آسمان پورته و او محکمه کلکه، زور د زورور و او دوران د حاجي حيدر ؛ چې ده به له ناخواله حيدرشاه باله.

چې مارشونه به راوتل، حاجي حيدر به يې له زامنو سره په سر کې روان و ، د شعارونو به د يوه سر و - د بل لمر ، چې ميتنګ به دايره و، د نطاق د هرې جلې په پای کې به حاجي حيدر د انقلاب زنده باد په چيغه ستيج ولړزاوه ، حاجي يوه پارچه انقلاب کړځيدلی و او يوه توپه مبارزه ،حتی لمانځه - اوداسه ته يې هم شا وراړولې وه تا به ويل چې په درست عمر به يې ټپه نه وي وهلې او جومات به يې هډو ليدلی نه وي . د لوی پيرنذرونه د مړو شپه ، د عاشورې ورځ او نور خيراتونه يې پرې اينبي وو ، زاړه دودونه ، رواجونه او مذهبي مراسم او شعاير به يې خرافات او ارتجاعي حرکات بلل .

حاجي غلام دده له وېرې جومات ته غلی - غلی تلې - راتلې کا و ، نذرونه - خيراتونه به ټپټ ورکول چې د ارتجاع ټاپه نه وربانديې ولګول شي ، خو برسېره په دې هم څو ځله يوه شپه - دوه شپې بنديې او څو ځله په نقديجريمه محکوم شو ، دا هرڅه يې کالل د زورور زور ته يې سر ټيټ کړی و ، هيڅ يې هم نه ويل . خپلې سپکې

او خپلې مادي تاوانونه چې د حاجي حیدر له خوا ورپېښیدل له یوې خوا د خپلو ورځو ماشومانو ترڅه او ویره، چې د حاجي زامنو به وهل - ټکول او یو-دوه ځله پې محبس ته هم بیولي وو . له خپلې خسوا د ده په لړمانه اوږ بل کړې و درست حواس پې د غچ او انتقام په لور اوښتي وو او د وجود هره ذره پې د بغض او کینې په لمبو سوځیدله ؛ منتظر و چې خدایځ به پې ورځ راولي .

* * *

خو ټکه چې خدایځ په یوه حال دی نه پرېږدي ثبات ټینګ پاس کیږي دغه شان د حاجي حیدر عروج دوځ هم ژر په نزول مبدله شوه ، د کښتولوالۍ سوچ په اشرفه نوښته . امین وو ژل شو او د خلقیانو د قدرت زوال راغی، د حاجي حیدر زوم د پرچیانو د ځوانولو په جرم مرکز ته تړلی و غوښتل شو د حزبي سازمانونو وسړي اوښتی و ، حاجي حیدر ته د انکار هیڅ هم نه ورپاتې ، د کوڅې دربار پې ونغښت ، نه د چوکیو پته لګیده نه د ده ، حتی لمانځه ته پې بیا مخه کړه ، جومات ته به سوان ځو هغه هم په ټینګ سر او ټینګو ستړګو .

حاجي غلام چې د انتقام په جذبو کې سوځ کال د زړه ویښې ځښلې وې ، تر دې وړ او مناسب وخت پې بل نه لید ، که پروت حیدر شاهي وه ، نن غلام خانې راتله ، تور تر برګې څه کم و ؟ هغه که له خلقیانو سره ځان پیوند کړې و او دهغه په متې پې ده ته یو کال د سر په کاسه کې او به وسکړې وې ، دی هم داسې بنکارېدو چې له نویو قدرتونو سره پې لاس وړې وې ټوی پې ـــ

مشاهده می کنید که ابراهیم(ع)، در آزمون پیروز شد وخداوند او را پیشوای مردم ساخت ، وچون خواست که فرزندانش نیز مشمول این عهد خداوندی بوده این منصب جلیل به آنان نیز تفویض گردد، خداوند(ج)، در جواب فرمود که این عهد شامل ستمگران نیست وفرمان امامت به ستمگرانیکه در آزمایش و امتحان ناکام شوند ، نمی رسد .منصب قیادت و امامت مردم ، در مسیر تقوی و پرهیزگاری ، به کسانی تفویض می گردد که در ابتلاءات الهی و آزمونهای که در مسیر ایمان جلو میاید - موفقیت کسب کنند .

همچنان خدای قدیر نوید می دهد که در ضمن ابتلاءات ودرخم و پیچ آزمونها اهتمام تربیهٔ روحی و معنوی مجاهدان مؤمن صورت خواهد گرفت که تمحیص عناصر مؤمن و رشد روحی و معنوی - وبرتری اخلاق آنان بذات خود با نابودی دشمن مترادف است قرآن درین زمینه میفرماید:

« ولیمحص الله الذین امنوا و یمحق الکٰفرین » (آل عمران : ۱۴۱) .

« وتا عیار کند کسانیرا که ایمان آورده اند و نابود سازد کافران را » .

و در جای دیگری می فرماید :

« والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا و ان الله لمع المحسنین » (العنکبوت:۶۹)

« و آنانیکه در راه ما رزمیدند ، حقاً ایشانرا به راه های خویش هدایت می کنیم، و یقیناً خداوند با نیکوکاران است » .

۳ - ابتلای منافقین : حالات دشوار و شرایطیکه مقتضیٔ تهیه و آمادگی برای جنگ است ، چگونگی تعلق و پیوند افراد را با نهضتی که جنگ بر آن تحمیل گردیده است ، هویدا می سازد ، آیات متعدد قرآنعظیم‌الشان ،

ورواستاو، چې حيدر درسره راوله ، په خپله د ويالې په غاړه په جګو پښو ويښه ناست و ، چې حاجي حيدر راغې، حاجي غلام يې د سلام په ځواب کې وويل : په دې پوه شه چې کله وار د ابا وي-کله د ادې ، پرون چې ستا دوران و په هيڅ دې صرفه نه وکړه ، چې څومره بد دې په وسه کيدل هغومره بددې راسره وکړل خو زه نور څه نه درته وايم ځکه چې سيال دې نه ګڼم، بس د خپل هنګي وار درڅخه اخلم ، خرنګه چې زما د خره آوان ستا په دماغ بد لګيد و را باندې ورک دې کړ ، نن چې زما وار دی ، زه هم وايم چې ستا شعار وينه مې لا اوس هم په سر کې څرېکې وهي نو امر کوم چې سبا دا مهال دې دلته نه وويني ، کښه نو پوه شه، چې په غوښو به دې کارغان مارې شي ، بيا شوې کنه ؟! نور څه به نه درته وايم ، ورځه هينګاری دې په هينګاره، او ورکه دې په ورکه درجوا .

انـدرز

ز پيری ياد دارم اين دو انـدرز
نبايد جـز بجان خويشتن زيست
گريز از پيش آن مرد فرو دست
که جان خود گرو کرد و به تن زيست
(علامه اقبال)

غضنفر

د مور غم

دوی تېره ورځ سره ملګري شول او نن يې کړه وړه ورځ د بغلان په کلیو - کروندو کې کار وهلې ده، چې هر کلي ته ورسيږي، نو معلم ته پخوانۍ وختونه ورياد کړي، د بمونو اوتينګونو په توتو کارې توکړې، کله - ناکله يې ړنګ شوي کورونه د تندي ګونځې ورياتې کړي او په سترګو يې توره شپه شي، مګر د نسيم حال بل دی، چې توتو پسې اخيستی دي او شا وخوا ته يې پام هم نه دي.

دريې - دريم نيم ساعته د مخه بره ګډ هيار راغله، راتيته شوه ودريده او د مرميو بارانۍ يې شروع کړ، معلم په شاړو کرندو کې (چې دوه - دوه نيمې لوېشتې واښه پکې وکار وو) پرېوت او ده ته يې ورغږ کړ چې: پروت و کړه سر پټ که، سترګې پټې که، نوکان پټ که... مګر هغه نکه بوت وکار و، خپل نوکان يې ژدوول او د خيالونو له خوبه را ويښ نه شو، معلم لا پروت - پروت نارې وهلې، چې الوتکه په بل لوړ وکاړه او دوی له خطره

وشړغوسړل شول .

معلم‌دنسيم دې حالت ته ډېر فکر وکړ دی نـه پوهيږي، چې دده روحيات څنګه پيدا وکړي . هغه ته د ټپرو جګوونو کيسې ټپروي او دا وړښودل غواړي، چې ته خوا مه بدوه ، سنا کاس د وڼو تر سر جار شوی دی او ستا بانه د وڼو په مينه کې لوګی شول ، ته د ډېر ويار او عزت وړ يې ، له تاځخه به لوی خدای (ج) خوشاله وي او ته د هغه د مظلومو بندګانو لوی خادم يې .

نسيم د معلم خبرو ته غوږ نه دی اينبی ، د هغه په زړه کې څه بل شاپ اوس بل دی، د ويارلو افتخار خبرې وړته مکرړې ايسي او پـر ذهن يې دم پر دم هغه پـروفې پېښه خوړيږي ، له ځان څخه پوښتنه کوي :«عجيبه ده، زړه هيڅوا و نه پـژنـدم ، هغه ماله ډېره لږې څـخـه و پـژنـدله ، خو دې راته په خپل کاس ډوډۍ راوړه، په سر يې بشکل کړم او په خوند خوند يې زما خـبرې واوريدې ، مګر زړه يې و نه پـژنـدلـم او د جومات په چوټره کې يې د يو بېګانه په څېر راڅخه د خپل زړوی پوښتنه وکړه ، نه پوهيږم چې زه ډېر بدل شوی يم اوکه ددې حال خراب دی ؟ شايد دا دوارې دليله سم وي،ممکن هيڅ به نه وو ، خوب به مې ليده او اوس به هم خوب وينم » . د خوب کله يې په ژبه وويله او بيا يې په شوند و

کې وموسل . معلم دا فکر وکړ، چې ځما په خبرو پورې يې وخندل ، نو په اوږه يې کاس ورکښنود او په پوړيدلي غږ يې ورته وويل : ځه به او س دخپلې مور کيسه هم درته وکړم ، ته باور وکړه، چې نه هم غمجن يم، دير خوابدی يم ، خو څه وکړم ، دا به د خدای (ج) رضا وي او تقدير نه پربله کيږي . د معلم پيا وړې کاسونه د نسيم تر غاړه ځاخلقه شول او چې ځوان د معلم د غږ پوهيدا د خپل زړه دربا ته ورته احساس کړه، نو بيا يې ليمې د معلم خوا ته ور واړولې .

معلم ورته وويل : يارة ځموږ سيمه ډيره آباده ده ډيرې ښې وني لري او ښې شولې پکې کيږي ، شاوخوا يې ځمغونې کروندې دي او د کندز سين لکه د سپينو ځمرو کاروان پکې بهيږي. ځما وړوکې يې د هډې سين په غاړه ليدلی و ، ځوسان له لرې کليو په مانې راغلي وو هغه د هيليو ښکار کاو ، دوی داګومان درلود، چې دې نور د تيښتې کار نه لري ، نو دوه- درې تيښکه يې تري را- وځرخول ، د هغوی زړه و، چې ژوندی يې ونيسي ، توپک ځني واخلي او عذاب کشه يې کړي ، نوځکه يې تيښکو نه ودرول او مرمۍ يې پرې و نه وروله ، خو دوی وپوهيدل هغه ډير ښه کامبوزن و ، سمدستي يې درياب ته توپ کړ او تر څو چې تيښکونه د سين غاړې ته ورسيدل ، ده په ډوبکې

ځان د پله کاندې ته ورساوه ، که څه هم په ښې پښه يې يوه ګولۍ لګيدلې وه ، خو هډوکي ته يې تاوان نه ورسيدلی وو ښانو په دريابې د ډبرې مرمۍ ووړولې مګر له ټينګوښو راښکې نه شول او دی د پل تر ستنو کاندې خدای وساته .

کله چې ټينګوښو د بنار خواته مخه کړې وه ، زما ورور هم کورته را روان شوی و ، په کومه کاره چې دی راغلی و ، د واوړو په منځ کې د پرېوتلو ، لويدلو اوپښې شوېدلو د ډبرې ننبې وې او دا يې بنودله چې خوارکی په زحمت سره کورته رسيدلی و .

په دې وخت کې د معلم غني څه نور هم ژړغونی شو خپل کاس يې د نسيم له اوبو راپورته کړ او له شيبې نيمې سکوت څخه وروسته يې وويل :

زليه ! زه په هغو شپو کې په کور نه وم . او دا هرڅه مې ادې په ستړګو ليدلي وو ، هغې مودې ته دا ټکل داسې کاوه ، چې د سپېدې چاود نه راوروسته مو د ټينګوښو غږ تر غوږ شو ، مخ ډبر و او واوړه پرته وه ، د تېښتې لوړی نه و او د الله په رضا صبر شوو ، مګر سلطان محمد راته وويل :

زما زړه نه صبرېږي ، پرون يې هم د دريابې په غاړه کابو وژلی وم ، که کورته راستون او زه يې زخمي وليدم نو بيا مې نه پرېږدي ، بنه به دا وي چې په دا مخامخ

غوندې يو کې پټ شم. ما ورسره ومنله، خو پل يې سم نه-شو اخيستی، نو ميرزاکې ته مې وويل: چې هله زويه! ته يې تر مټ و نيسه او ژر يې په غوندۍ کې واړوه.

معلم بيا پټه خوله شو، خه نور خه لکه چې ډېر ياد شول او داسې يې وويل: موسا مې ويل، مخکې له دې چې دوی په لوړو کې پريوزي، ټينګونه راورسيدل او په دوی يې ګولې وورولې، زه فکر کوم چې موسا به مې هاريوي ماشينونه ليدلي وي، ځکه ويل به يې چې د برګ ندي او واړه ټينګونه وو. چې قوه راللنډه شوه ميرزاکې سلطان پرېښود، منډې يې کړې او د تيږو شاته پټ شو، سلطان شاته پاته شو، سوسانو وويشت، ميرزاکې چې دا حال وليد، نو د وسور خواته يې رامنډې کړې، خو په واوسو کې راپرېوت، موسا به مې ويل، چې ما د دوی د واسو غږګې کړيږه واوريده، چې نارې يې کړې: «ا... د...ې».

خو ځوانه زه يقين لرم، چې موسا مې هسې تصور کاوه هغوی يې دې ته نه وو پرې ايښې چې چيغې وکړي، موسا مې د ډوزو سره سم ضعف کړې و او تر څو، چې د کلي خلک راورسيدل او دوی دواړه يې بنخول، دا بې حاله وه، هغې چې به ددې پېښې په هکله څه ويل، نو خپل تصورات به يې اورګډول. دا نه وه ملامته، د دې منځوی زړی د شپاږسو کلونو و او کشری زړی يې يوولس کلن و.

خُوانه ! لوی غمونه نه هیریږي ، خو د مور غم
مې د ډوډۍ لوی و ، چې پټول غمونه به یې رابانديې هیر
کړل او د دې غم به په غمونو کې لاهو کړم .

معلم صاحب ! زه مې هم مورته خوا ښدیم ، دې وت
وت د سلیم پوښتنه را ټخه کوله او په یوه ساعت کې
یې خُوښلې په تندي بشکل کړم ، چې ما د سلیم حال ورته
راوړی و ، تاسو به ممکن پام و ، چې راته ویل یې : سلیم
ته به حال ورکړې ، چې یو ځل راشي ، دې میاشتې وشوې
چې نه مې دی لیدلی ، دا خومره وخ ده ، بد - بد خوښونه
ویښم ، ورته وایې به ، چې ضرور راشه ، مور دې ډېر
یاد وي . تا خو به پام و ، چې ما ورته وویل : زه اوس
له کندزه راغلی یم او بلې خوا ته ځُم ، مګر دې وژړل
او په ډېر عذرې ووېل : چې هر ساګه وي حال ورکړه
زما ډېره اندېښنه ده او ورته وایې به ، چې پلار دې ناجوړ
دی ، تېې یې کیږي .

معلم صاحب ! زه ځه درته ووایم ، له زړه مې یو خدای
خبر و ، چې دې مې د پلار د ناروغۍ وویل ، پلار
مې ناجوړ دی خو زه یې پوښتنه نه شم کولای ! تر ډېره
وخته مې په فکر کې جنګ و ، یو ځل به مې ویل ، چې
راځمه ! ځان ورورپېژنه او د پلار پوښتنه وکړه ، خو
بیا به مې مور ته وکتل او دې ته به مې خوا بدده شوه

آخر مې له ځان سره فيصله وکړه ، چې راځه سليمه ! د موږ د پاره ټپلاړ مه وينه .

معلم ورته وويل : بنه دې وکړل ، زما بنه پام و ، انسان بايد د نورو د پاره په غمونه وژغمي او د انسانيت راز هم په همدې پټکي کې پټ دی ... معلم صاحب لا د لوی انسان کړه - وړه جوړول ، چې سليمه پې خوښه شو او د خبرې په منځ کې پې ځنې وپوښتل : بنه د موږ کيسه دې په نيايي کې پاڼې شوه ، معلم وويل : زما موږ مړه شوه ، زما موږ د زامنو له مړکه دې ښاڼې وروسته پور پرې کړ ، کاشکې پې د زامنو غمرنه وای ليدلی ، په هغه ساړه ژمي به ټول ويده وو ، دا به راويښه شوه ، پټه به ووته او د زامنو د ګوروڼو خولته به کښاسته ، په عذر - زاريه به مو راوسته ، ورته و به مو ويل ، چې سکاروی به دې ووهي ، په بد يخ دی ، توبه وباسه او له خدايه ووېرېږه . له دې ښې وروسته د دې حالت په زوټه زوټه م ژړل ، مګر اکثره به په حيرت کې ډوبه وه ، په ديوال يا ګيلم باندې به پې يو - نيم داغ ته کتل او تر ډېره وخته به وسته ځيره وه ، پسرلی لاسم نه و راغلی چې بيا د روسانو قوه راغله ، د دې چې د تانکونو غږ تر غوږ شو ، نو پښې او لاسونه پې وپوړيدل

څو دقيقې وېره زياته وپوړيده ، ګومان کوم چې د وينې فشار يې ښکته لوړشو ، داسې وپوړيده چې له تم کيدو ووته او بيا د تل ډپاره آرامه شـــوه .

د معلم غږ ژړغونی شـــو ، ستونی يې ډک شو،کاږې يې تيږې کړې ، وتوخيدو او نورې يې څه ونه ويل .

سليم څنې په پوښتنه غږ پوښتنه وکړه :

- آخر ستا له وروڼو سره د دوی څه بدي وه ؟

معلم وموسيدو او ويې ويل : زه نه پوهيږم چې دوی يې په وژلو ولې خوشاله کيدل ، روسان ډېر ځله داسې کاروونه کوي، چې په سبب به يې نه پوهيږی ، ته مجاهد يې او تا به لا ډېرې د دوی وژنې ليدلې وي . زما وروڼو به اجل پوره و ، دوی زموږ د کور تلاشۍ ته نه وو راغلي ، بلکې بر کلي ته تلل او هغه يې خراب کړ .

مرگ در زندگی ذلت بار است وزندگی درمرگ
پیروزمندانه وقهر آمیز

(نهج البلاغه)

لنډۍ

بهلتون په جګو غرونو راغی
خلك وطن نه بهلوي ژړا راځینه
د مجاهد وګروپ تیارشو
زه یې په څنګ کې دساتې په شاني حمه
مجاهد سر په کاس نیولی
د قو ماندان په قو ماند مجاهد لهځینه
اوښکې مې بیا په ګریوان راغلې
ملګري لاسهلا زه یواځې پاته شوم مه
د مجاهد توپك ناري کړې
لږ مې صفا کړئ چې روسان مې دارومه
ما د جهاد سنګر ته یې ئ
زه دراکټ په ډزو زړه ټکوروم
د داشکې، هاوان په څنګ کې
د پس لګد راکټ به ګروپ تیاروم

مواضع عناصر منافق را در مراحل گوناگون حرب و شرایط دشوار ، باکمال صراحت و وضاحت میخایاند ، که مادین جا به شرح نسبتاً تفصیلی آن می پردازیم .

بمجرد یکه جنبش با خطری روبرو گردد و موجودیت نهضت را تهاجم احتمالی دشمن تهدید کند ، عناصر ضعیف الایمان وجبون ، که ایمان شان باشرط عدم تحمل خطر و ضرر مشروط میباشد بحیث مرض در روح و بی حرکت در موضع تغیر و اضطراب قرار گرفته به سراغ پناگاه نجات از تهلکه و خطر می افتند ، بجای اینکه در جستجوی امکانات دفاع از سالمیت نهضت باشند هم وغم شان در امر تأمین مصونیت شخصی شان خلاصه میگردد ، ولی چون حالت خوف متشنج شود و نهضت با پیروزیها و موفقیتها روبرو گردد ، این گروه مکار چرب دست وچرب زبان به سهم مشروع وجائز شان اکتفاء ننموده سعی می ورزند ، افتخارات پیروزیها و موفقیتها یرا که خود در آن سهم نبوده اند ، درمجموع بخود اختصاص دهند . ادعا میکنند که با وجود قطع رابطه با نهضت در اثنای خطر و با وجود فاصله گرفتن از سنگرهای دفاع از کیان جنبش ، دور از سنگرها به نفع پیروزی قریب ، کاری انجام داده اند ، که مجاهدین در سنگرها و شهداء با قربانی جان و زندگی شان نتوانسته اند بآن توفیق یابند - قرآن در زمینه می فرماید :

« فاذا جاء الخوف رایتهم ینظرون الیک تدور اعینهم کالذی یغشی علیه من الموت فاذا ذهب الخوف سلقوکم بالسنة حداد اشحة علی الخیر اولئک لم یؤمنوا فاحبط الله اعمالهم وکان ذلک علی الله یسیرا ● الاحزاب -(۱۹).

« پس آنگاه که حالت خوف بیاید بنگری آنانرا که بسوی تو به غیری مینگرند که

سنګر ته څم را پسې راشه !
مجاهدین به دې سلام ته راولـمه (*)
په مازیګر مې کروپ تیار کړ
اوس د دښمن مرکز ته څم حمله کومه
رابطه ! لاړشه زیری وکړه
چې مجاهد په کامیابۍ راغلی دینه
قسم په خدای ﷻ به درته وکړم
د وطن مینه له ایمان څخه شـــمیرمه
د "غزنوي" په قلـم راغلل
چې ایماندار وي د وطن مینه لري نه

د البرونکی : ملا اسمعیل حبیب "غزنوي" د پکتیا ولایت
دسرحدي حوزې قوماندان

شهیده ! بخت دې مبارك شه
له او لیاوو دې اوچت دې مقاموونه
د شهید وینې هدر نه ځي
د سره روسي په کور به جوړ کړي سیلاوونه
د شهید وینو کې اشـر دی
څکه روسیان په هرمیدان کې ماتې خوړلې نه

(*) د قوماندان خوښتنه له رهبر څخـه .

د شهید غسل روا نه دی
رنګین کړیوان به د الله حضور ته ځینه
د شهیدانو کتې دوه دي
یو پې جنت، بل د الله دیدار کوینه
مجاهدین به خدائ کامیاب کړي
ټوله دنیا کې به روسان و شرموینه
د مجاهد ولوړ مقام دی
د خدائ په مینه باندې سر قربانوینه
مجاهدین په اتفاق دي
د دین په لار کې شیطانت نه قبلوینه
مجاهدینو سره ټول شئ
سبا په دې لاره تیریږي کتارونه
مجاهدین غزاته لاړل
د سره روسي په سر به بلکړي سره اوښرونه
د مجاهد لالي دپاره
په نیمه شپه کې مرهم ورته کومه
جانانه! کوره خفه نه شې
که ته شهید شوې بیا به زه غزاته څمه
عیش و عشرت پریږده جانانه!
ټن د اسلام لاره کې تیر کړه کړ اوونه

رالیږونکی: ذبیح الله - عطائ

بـرې به خود زمونږ په خوا وي
چې د غـزا میدان ته ټول راوتې یوونه
جانان ې میر شو د بنکاریانو
په ژمي - د وبې د روسیانو بنکار کوینه
سحر-سبا به رېنا راشي
روس به په شاشي لکه غل او د غله ملونه
په مجاهد و کې تیت مه کـُه
ظالمه یاره په ټوپك دې پښ نـــمه
تـره کی لوی مثال دی خلقه !
چې د د بنمن په لاره کـُې مردار به مرینه

راپـرونکی : محمد معصوم د غزني ولایت د
عقرد ولسوالۍ مجاهد

په صف د بنځو کې ولاړ دي
چې د وطن په دښمن نه کوي بـــریدونه
وطنه خوك به دې آزاد کړي
دا شنکیالي ځوانان خو تورې خاوې خوینه
خوله ې خندا ته نه جوړیږي
د وطن غم په مخ خپلې راکـوینه
افغانستان کې شور او شر دی
دا مجاهد ز لې وطن آزاد و بیـــنـــه

هی د هغې ورځې زلزله !
چې د ږنه تله ته ې پرېښودې وطنه
وطنه ! تا پسې چې ژاړم
سترګې ې وکړې د چینو په شان زېرمنه
د ننګې لال ې خیراتې دی
که ې جانان د غزا بیا راشي مینه
یو ځل ې ولیدای وطنه !
بیا ې رضا ده که ې سترګې چینجې خوږنه
د آزادۍ ژوند وغه راشه !
په اوسنۍ ژوندون کې دېر وکړیدمه
زه « صاحبزاده دېر ارمانجن یم
چې د وطن د غږونو بیا وکړم سیلونه

پاڼوونکی : مولوي صاحب زرغون
د ناګومان کمپ نه

انځورکښ

محاکمه

علني محاکمه وه، چې پرکنې ولس پې تماشې ته راغونډ شوی و. د قسمت محکوم پې په کلکو ځنځیرونو ترلی راوست. ددې محکمې په محض کې محکوم ته د دفاع اجازه نه وه. البته د محکوم مدعي کولای شوای چې هره لحظه څه ډوې ټوروونه هم وربانديې وتپې او تازه ادعاهم وړاندې کړې.

قاضیان په یو صف کې ناست وو، کله به یې د مدعي خبرې اوریدې، کله به یې خپلې ذات البینې مسئلې سره حل کولې. نه یې د محکوم تمبیدلو اوښکو او تربت شوبو اسوېلوته کتل، نه یې د تماشاچیانو عکس العمل ته پام و.

چې د قضاتو به سره په خپلو کې خواله و، مدعي به خپل ترلې مدعاعلیه په سوکونو اوچپړو هم واهه، دمحکمې مسوولو ساتونکو وړته هیڅ هم نه ویل، دننداړچیانو څه په وسه نه کیده، ځکه چې نه د محکمې قانون د مداخلې اجازه ورکوله، نه تر هغو کتارو وړ-اوښتلای شوای، کوم چې متس مدعي او مدعاعلیه راګرځیدلې وې.

د محکوم له سر او خولې سرې وینې راروانې وې، کمربوان

يې څېړي ، بدن يې سل ځايه ګډېدلی او حال يې ډېر خراب و.
محکمه ډېره اوږده شوه ، وروستۍ پړاو مياشتو او کلونو بدلې شوې ، قضاتو ډېرې نورې معضلې حل او ډېرې فيصلې يې صادرې کړې ، اما د قسمت محکوم فيصله نه وشوه ، نه يې څنګېرونه له غاړې خلاص شول ، نه يې د آرام مخ وليد ، نه ورته چا د يو ژوندي او مستحق انسان په حيث د خبرو اجازه ورکړه.
له ډېره فشاره يې وړو - وړو اعصاب کمزورې کيدل او حوصله يې له لاسه ورکوله . کله - کله به يې د محکمې د قانون په خلاف يوه - نيمه چيغه هم له خولې ووتله ، چې د قضاتو کاوړ به په خوله کې وروچه کړه .
ډېر کلونه ووتل ، محکوم لا هاغه شان د محکمې د حکم په انتظار په علني محکمه کې وهل کيږي ، څېل کيږي او هره لحظه په خپلو نويو وينو رنګيږي . خو نه قضاتو تر اوسه د ده سرنوشت معلوم کړای شو ، نه يې اقلاً له وهلو او ترټلو وژغورۀ ، نه د ده قضيه ورته څه د توجه وړ قضيه ښکاره شوه .
دا بېګناه محکوم د افغانستان زړه ور ولس دی ، وګورو چې بالآخره د عالمي وجدان په محکمه کې څه فيصله ورباندې صادريږي - آيا د مجرم په حيث به په جېل کې پاتې يې ، که د ليرې په نوم په بند کې ؟؟ که به ؟ . . . .

عمر « نیرو »
فرانکفورت

گریستم

مهجور لانه گشتم و تنها گریستم
در پیشگاه حضرت یکتا گریستم

از جور ظلم روس جفاکار فتنه گر
بر خویش و بر رخاوت دنیا گریستم

چون ابر تیره تا شدم آواره از وطن
در کوه و دشت و وادی و صحرا گریستم

دور از دیار و صحبت یاران نکته فهم
چون بلبلم به ناله به هر جا گریستم

تنها چو صوفیان طریقت به خلوتی
رو بر زمین نهاده به مولا گریستم

امان الله - نصرت

دسلګو اختره !

ډك پې له غمه - له ما سره د سلګو اختره ! مه راځه ای د ژړې د واختره !
ای د درد وینو، کړاوونو، اسو بلو اختره ! مه راځه ای د ژړې د واختره !

موږ د روپي وحشت له کاسه په لبو کې اوسو
په خپلو وینو کې لت - پت یو پرهر و کې اوسو
بې کوره کوڅو در په در خوار و ایرو کې اوسو
ز موږ په برخه سړې لمبې دي د لمبو اختره ! مه راځه ای د ژړې د واختره !

هرځای کې بل دی د یارانو غلونو کې اوس
ویر او سلګی دي هره خوا کلو - کورونو کې اوس
رڼا د ملک په سر در و او چمنونو کې اوس
اوس وینه بل دي د اترم، د سوځیدو اختره ! مه راځه ای د ژړې د واختره !

تپه تیاره ده، توره شپه ده، هیڅ رڼا نه شته د ی
شونډې په وینو باندې سړې دي ټ خنداڼه شته د ی

غم او ماتم دې دخوښۍ هېڅ تمنا نه شته دې
خه له راتلې په موږ د توره- توره وشپه واخته؟! مه راځه ای د ژړېدو اخته !

موږ د سترګو په اور سوځېږو فریاد ونه کړو
په خپلو وینو کې تړپېږو تل آهونه کړو
ژوندي په خاورو کې خښېږو، موږ وېرونکو
د ستمونو او آهونو فریاد و اخته ! مه راځه ای د ژړېدو اخته !

ننه په سرو وینو کې د پښلو وربلونه سره دي
ځوانان په سرو وینو لېږي د بستې، غرونه سره دي
لوی او واړه په وینو سره، کلي- کورونه سره دي
د غم ځپلو، کړېدلو پرکمنو اخته ! مه راځه ای د ژړېدو اخته !

خولې موخندا ته جوړې نه دي له اېرو نه ډکې
سترګې مۍ کوړه چې غلیم کړي له اغزو نه ډکې
د بستې- میرې شولې د مړو له قبرو نه ډکې
د سوو ساندو، حسرتونو او درد و اخته ! مه راځه ای د ژړېدو اخته !

دلته په وچو- سپېرو د بستو کې خواران پرانه دي
وږي، ننګر په تن برېنه، خواس اوپرېشان پرانه دي
کورې بې نه چې کوندې، وراري، یتیمان پرانه دي
د سوو انګر او وچو شونډو د کېږد واخته ! مه راځه ای د ژړېدو اخته !

اختره اموښ کړه ماتم دې سرود ونه نه شته
په ویښو سره دې ولسونه فرحتونه نه شته
ښکلې جامې او په نکریز وسره کالسونه نه شته
سنګې موږ کې دې د ظلم له اغزو اختره ! مه راځه ای د ژړې دو اختره !

اختره ! موږ کورۍ او سیږ و د لمبو په لمن
اوسوپه د ښتو په میرو کې د اغز و په لمن
او ښکې مو خاشې په کرهوان د اسوبا و په لمن
څه غواړې موږ نه د ماڼیو او قصرو اختره ! مه راځه ای د ژړې دو اختره !

کونډې او وارسې په قبرو د شهیدانو ژاړې
د کربلا په سوو - سوو پښتنکانو ژاړې
غواړې بابا میندې په حال د یتیمانو ژاړې
او ښکې بهیږې په شلیدلو کرهوانو اختره ! مه راځه ای د ژړې دو اختره !

د استعمار په مقابل کې جهاد ونه کړو
تاته و زکار نه یو اختره موږ جنګونه کړو
کوره په سرو وینو لوبیږو غوره نه کړو
یوو خپل خلاصون له پاره ناست په سنګرو اختره ! مه راځه ای د ژړې دو اختره !

(مردمک) چشم شان ، دور می خورد مثل کسیکه از سختی مرگ بیهوش گردیده شود ، بعد چون تیر از میان بروند - با زبان های تند و تیز (علیه) تان زبان درازی میکنند ، بخل کنان برمال این جماعه ایمان نیاورده اند پس خداوند حبط کرد اعمال شانرا ،

درین آیهٔ موجز حالت منافق فرومایهٔ جبون ، بخوبی تمثیل گردیده است این گروه فریبکار که بخاطر کسب موقف و اعتبار - قبل از فرارسیدن حالت جنگ دم از مبارزه میزنند و خود را فدائی مخلص معرفی میکنند اما زمانیکه حالت جنگ و موقع دفاع و پاسداری از اسلام فرارسد و از ایشان خواسته شود تا عملاً در میدان جهاد حضور یابند و مسؤلیت پاسداری از مرزهای اسلام را ادا کنند پرده های ریاکاری و تصنع از چهره های منافقانهٔ این گروه ضعیف النفس و بی اراده ، فرو می افتد ، در خوف فرو رفته و حالت بهت زدگی و تحیر را بخود گرفته ، تصور می کنند که فرصت مرگ شان فرارسیده است بناء رعشهٔ مرگ آنانرا فرا می گیرد ، چون ایشان آنچه ادعا میکردند ، نسبت بآن از صمیم قلب ایمان نداشتند ، صرف ادعای منافقانه و کاذبانه بود ، که هرگز قادر نیست انسانرا تا حد قربانی و ایثار برای هدف آماده کند ، ولی پس از خاتمهٔ حالت خوف ، هم در صورت پیروزی و هم در صورت شکست ، زبان درازی ها و تبصره های منافقانهٔ این گروه شیاد باعث اذیت و آزار مجاهدین مؤمن و مخلص می شود .

در صورت پیروزی به استدلال و احتجاج می پردازند تا خود را در کسب افتخارات و امتیازات مستحقتر از هرکس دیگری ثابت کنند و سهم بیشتری بدست آرند ، هر تقسیم ترتیب و درجه بندی را ، هرچند عادلانه و بر کمال قسط

لا ړشه هغوته چې د ګلو ګلستان کې او سي
لا ړشه هغوته چې آزاد زمکه آسمان کې اوسي
چې د هوس او خوشالیو په جهان کې اوسي
موږ نه پوهیږو په خندا او خوشالو اختره!
مه راځه ای د ژړېدو اختره!

ا ختره! موږ کړه بې وینو بل سوغات نه شته دی
اوږ دی او ویږدی په قسمت موږ ښه نه شته دی
دلته سپرلی، دلته اختر، دلته برات نه شته دی
زړونه موږ مات، ژوندون میرات د کړېدو اختره!
مه راځه ای د ژړېدو اختره!

چې آزادي نه وي اختره خوب - خندا به څه کړو؟!
چې خپلوا کې سره رانه شي وایه تا به څه کړو؟!
تا خو لا څه چې د اژوندون اود نیا به څه کړو؟!
په بل وطن کې به دې څه کړو د پردو اختره؟!
مه راځه ای د ژړېدو اختره!

چې شي نصیب موږ یت بیا به جشنونه کوو
په ډېره مینه به یو - بل ته تبریکونه کوو
کال په کال څه چې هره ورځ به اخترونه کوو
جوړ به سپرلی شي د "نصرت" په سر د واختره!
مه راځه ای د ژړېدو اختره!

۱۰ / ۶ / ۱۹۸۵
ناصر بابا غ

خراسانی

پیښور ۱۹/ ٤ / ۱۳٦۲

اختره !

نړۍ میاشتې له افقه شه رابر ه
لکه توره د غازي زلمي له سر ه

چې توره بر پښې دې مبارکه شي د بدمرغو
منډاره دې شه عالم ته بختور د

د مظلوم د زړه تکیه شي، د ظالم نه
چې په توره په ډالو راځې اختره !

د هغو میندو د سوي زړه ټکور شي
چې ټوټې ټوټې جلا شوي له ځیګر ه

د هغو سپین ږیرو ستر ګو ته رانجه شي
چې د بنمن ډې ړنا وړې له بصر ه

د شهیدارو دې بناده په راتلو شه
کومرچې ستاله پاره تیرشوله خپل سره

راشه ! راشه ! لومې پرې کړه، ولونه وا کړه
د اسیرو ملتو له بال و پر ه

په اخلاص به د زړه وینې درته کیږدم
که زما کاله ته هم راشې اختره !

د نړۍ له بشپړانزیو راته پاته —
دې د زړه څوتاوده ځایکې، د زړه سره !

په غربت کې به دې نور څه عزت وکړم ؟
چې له شان سره دې بنایي، چې وي غوره

که عالم په خوښۍ کلا کړي او موږ پرېږدي
تر راتلو به دې وي، نه راتله بهتره

خندوې دې څه چې نه شي اخیستلای —
د الم غمې یې له شونډو د پرهره ؟

هر افغان دی مالامال له وینو زخم
په شوخه وهنه وهې کاس کوهه نیشتره!

په نکریځو ماشومان خوشاله کښینې
خپې سره کړه دد بنمن په وینو نره !

په توپونو ، راکټونو نمانځل کیږې
که دې درونه هر کلی غواړې معتبره !

که د ښښت غواړې، که پت غواړې، که من
لیږې مه ځه، لښ وهوا وهه له خیبره

هلته وهشه چې لمبې دې د بموبنو
د شفق تامبو پې سوځې له شررې

هلته لاړ شه چې فتبال وې په خولونو
هلته لاړ شه چې د هرچا ده تږې بیره

چې ځوانان یې له وخټونو کسات اخلې
چې نجلۍ یې وهې غږو سره د غږه

په وېرتلو کړه نو ره مسته هغه خاوره
چې له وینو ده ستر مشکو معطره

هغه سیمه چې بنکلا وربانديې ویاړي
هغه خواچې هره خوا يې ده دلبره

هغه دښتې چې بهار يې پښو کې رغېږي
هغه غرونه چې خراج اخلي له لمره

اې شه - لاړشه !! بوسه واخله زما له پاره
د بنايسته له خلې ، د حسن له کشوره

لمرته وايه : په مزار د شهيدانو
وړانګې فرش کړه چې راخېژې له خاوره



له عروة الوثقیٰ څخه ژباړه

محمد علی کلی وایي :

زه غواړم چې له مجاهد ینوسره یو ځای شم

کاندفه ژباړه د هغو خبرو - اترو متن دی ، کومې چې څه موده وړاندې د بوکس مشهور قهرمان محمد علی کلی د عروة الوثقیٰ د درښې مجلې له محترم چلوونکي سره د اسلام او افغانستان په هکله کړې وې :

پوښتنه : د اسلام په باره کې ستاسو څه خیال دی ؟

ځواب : زما په عقیده اسلام د بشر د ښېګڼې د پاره مکمل دین دی او زموږ سپېڅلی پیغمبر ؐ په موږ باندې د الله ﷻ لوی رحمت دی .

پوښتنه : وروسته له هغې چې مود بوکس له قهرمانۍ کاس اخیستی دی - په څه لګیا یاست ؟

ځواب : ما د خپل نقاعد نه راوا خله متر اوسه پورې خپل ژوند د اسلام د مقاصدو د پاره

وقف کړې دی او دا مبارزه به د اسلامی جلال د حاصلولو دپاره جاري ساتي .

پوښتنه : په افغانستان د شورو (بلنزی) د تعرض په باره کې ستاسو څه رایه ده ؟

ځواب : واړه ټرپه په دې کوچني ، سوله دوست او ناپېيلي هېواد باندې د شورو تعرض غندي او ټولو مسلمانانو ته په کار دي چې د افغانستان د آزادۍ د پاره ، د کوم هېواد چې بې سولې او دوستۍ له همسایه کانو سره بله اړیکه نه لري ، د جهاد اعلان وکړي .

پوښتنه : د افغان د مقاومت د غورځنګ سره د مرستې څه رجحان لرئ ؟

ځواب : د یو مسلمان په حیث حاضر یم چې له مجاهدینو سره یو ځای شم او تر مرګه پورې په افغانستان کې وجنګېږم .

پوښتنه : تاسې ویلي وو ، چې زموږ له تاریخي مجلې (عروة الوثقی) سره ډېرې دلچسپي لرئ ؛ آیا وجه یې ښودلای شئ ؟

ځواب : ځکه چې دا مجله د مسلمانانو د یووالي د دفاع کوي او د قرآن او سنت تعلیمات خپروي ، همدا راز دا مجله د اسلام ستر بچي ، سید جمال الدین افغاني تاسیس کړې وه او هرڅوک یې قابل قدر مضامین لوستی شي .

پاسنی

تیټ ذهنیت

د کهترۍ احساس چې د چا د شخصیت په ستنو لګیا شي، د ویني په خبرې وړو - وړو رګونه وړتوبزي، څو چې يې د سړیتوب مانا وړوبنړوي . غلامانه ذهن او قدرت پرستي د دغه مزمن مرض له نتایجو څخه دي .

یو وخت دغه شان یو ذهناً تیټ بنیادم له کوم خان سره نوکر شو ، چې خان به هره وضعه وړسره کوله ، ده به د خان په خاص لطف تصیروله ، دا ځکه چې خان وړته د هر تیټ او پریوتی بنکاریدو . یوه ورځ چاپوښتنه وکړه : هلکه ! چېرې ګرځې ؟!

ده په جلا سر وړته وویل : له خان صاحب سره نوکر یم .

هغه بیا وپوښت : خان صاحب هم څه وضعه درسره کوي ؟!

ده وویل : هو ! کور يې ودان ، له موږ سره د هر بنه دی ، چې هر وخت مې وویني ، راته وایي : د سپي زویه په څه لګیا یې ؟!

ببرک او يارانو پې هم د غه مهلک مرض لاندې کړي دي ، دومره مرض وربانديې زور کړی دی ، چې د خان د نوکر ځوندې د خپلو روښي بادارانو هره سپکه - سپورده په خاص لطف تعبيروي په لويه خوله او جلې سره وايي ، چې کور پې ودان ، له موږ سره ډېره ښه وضعه کوي او چې هر وخت هم ووينې ، راته وايي : د سپې زويه په څه لګيا يې ؟!

د هر مرض چې علاج نه وي ، طبعاً وار په وار د سړي په زړه او ذهن ډېر مسلط کيږي . په ببرک غريب هم اوس دکه ترده احساس دومره غميدلی دی ، چې د بادار په مقابل کې ځان له سره ليدای نه شي او له ډيرې تېښې ورځې بالکل فنا ق المساکو دی ، بيا هم د خان نوکر چې يواځې ورته د خان خبرې له لطف د کې ښکاريدې ، د اخوا ډان د خان له ستړګو د هر مشاور ناز وړې او د هر روښي په سپکو - سپورو افتخار کوي که چاته په دې خبره کې څه شک - شبه ورپيدا کيږي ، لږ څه دې ورته ځير شي ، چې د روسانو کوم عمل ته دوی د پ شاپې دوستۍ پرتوک نه وراغوندي ؟ او کوم جنايت پې دوی له ځان سره مرسته او لطف نه کړي ؟ ....

د ماسکو بادارانو پې لګيا دي ، په خو زره کلن پر افتخاره تاريخ پې د بطلان کړنې باسي ، دين ، مذهب او سپېڅلي عقايد پې خرافات کړي ، زور فرهنګ او ثقافت پې له منځه وړي ، ملي هويت پې ختمول غواړي ، خو چې دوی در وټ غوږي ، دوی به

وانصاف میتنی باشد به این دلیل محکوم می کنند که باعث ارضاع و اقناع آنان نمیشود وحرص وآز آنان را اشباع نمیکند . اما در صورت شکست هرچند مواضع منافقانهٔ آنان خود عوامل این شکست را فراهم ساخته و هر چند اختلافات داخلی و اعتقادی های داخل صفوف ، که این گروه شیاد بوجود آورده است خود باعث تشجیع دشمن و موجب سرکوبی روحیهٔ تشدید مقاومت وتداوم جهاد در افراد متعهد نهضت باشد . علیه پاسداران مؤمن جنبش که برای دفاع و پاسداری از حریم آن ، بقیمت جان و زندگی بجهاد پرداخته اند . به تبلیغات ناروا وناجایز متوصل میشوند آنان دشمن را محکوم نمیکنند . توطئه ها ودسایس دشمن را به حساب نمی آورند ، مجبوریتها و مشکلات طبیعی نهضت را در نظر نمیگیرند وبه هیچصورتی نمیخواهند این شکستها را به نفع نهضت توجیه کنند ، برعکس بتجزیه وتحلیل آنان درباره عوامل شکست وبررسی آنان از مواضع ومواقف - اگر بطور صریح و واضح در جهت دفاع از دشمن نباشد ، بطور صد در صد بنفع دشمن وبرخلاف آنعده مجاهدینی میباشد که بقیمت مال وجان بادشمن متجاوز و متهاجم رزمیده اند ودرحدتوان واستطاعت خود مسئولیتهای ایمانی شانرا ادا کرده اند - چنانچه قرآن میفرماید :

« وَانَّ منكم لمن ليبطئنّ فان اصابتكم مصيبة قال قد انعم الله على اذلم اكن معهم شهيدا ٥ ولئن اصابكم فضلٌ من الله ليقولن كان لم تكن بينكم وبينه مودةٌ يليتني كنت معهم فافوز فوزاً عظيماً »

(النساء: ۷۲-۷۳)

په مانه خوله وايي : کور پې ودان ، خان له موږ سره ډېره ښه وضعه کوي او چې وې وينې راته وايي : د سپي زويه په څه لګيا يې !؟ ....

ببرك او دار و دسته خو به يې رنځوران وي ، غلامانه ذهنيت او تېټ تصور به کاندې کړي وي ، دکهترۍ احساس به د خان تر نوکر هم د دوی شخصيت ورځ تم کړې وي ؛ سړي حيران پاته شي نور عالم ته ،کوم چې بيا هم د افغانستان دمسلې د ريښه يو سر د ببرك په لاس کې وينې او له ده سره د خبرو- اترو ضرورت احساسوي او دې ته نه ګورې چې په دا سې لاعلاجه رنځ اخته بنيادم به څه وي ، فکر ، خبرې او والك اختيار به يې څه وي !

د حيرت ځای دی، چې د ګورد وښ ، غونډې يو هوښيار اوتجربه کار سړی د ملګرو ملتونو له مرکزي دفتر څخه راوخوځيږي ، څو زره کيلومتره لار وهي ، چې د افغانستان شخړه حل کړي ، خو د دې په ځای چې خان وښ غوي ، يا د خان مقابل لوری وپوښتي ، ورځې د خان له يې شخصيته نوکر څخه پوښتنه کوي .

د خان د نوکر ځواب معلوم دی ، هغه ته د کهترۍ احساس بل څه نه دي ورښوولی ، پرته له دې ، چې ووايي : د خان يې وړ- وړ کور ودان ، له موږ سره ښه وضعه کوي او چې وينې مې راته وايي : د سپي زويه په څه لګيا يې !؟ ....

شاهد

"بیست ماه در زندان پلچرخی" :

د شور له خونړې فاجعې وروسته زموږ د مؤمنو اوکړیدلو هېوادوالو د ژوند هره کړیه او هره شیبه د ستغو اوترخو خاطرو څانګړی باب تشکیلوی او جلا کتاب .

د غوږې له سفاکانه کودتا نه وروسته که له یوې خوا زموږ پر مظلومو وطنوالو له تهدید ، زندان ، تعذیب او شکنجې نه راوخله تر دې له ایزه وژنو او ژوندي ښخونو پورې د کلو او کورونو له بمبارد او توپ تړلو راوښیسه د کښتونو او زراعت د سوځولو او کیمیاوی وسلو تر استعمال پورې ، په غرونو او رغونو ، په سرو ژمیو او ګرمیو کې په وړې کچه او ډیلو پیلو د تور سرو ، بوډاګانو او ماشومانو له زړه غوڅوونکي بهیر نه راوخله د مهاجرت او بې کوره تر کړاوونو او ستونزو پورې او له دې سره د ملت قیام ، مقاومت ، سرښندنې او جهاد ، د دغه سپېڅلي جهاد او مقاومت حماسي ، کارنامې او اتلوالی

د دغه اوو کلو په اوږدو کې د هر سنګر ، هر کور هر بوډې ، هره ټیږې ، هر کمر ، هره درې ، هره شیلې او هره ځوکې سرلورې خاطرې ، هغه خاطرې او پېښې چې د تاریخ ټکلوري او ټکلارې ته یې بنسټیز تغیر ورویاښه او بنیادي بدلون .

یوه پلو ته د افغانستان د دردیدلې ملت مظلومیت او د هېواد په کوټ-کوټ کې د روسي وینې ځښونکو یرغلګرانو او ځان پلورو شرمیدلو خلقیانو او پیچمیانو له خوا د اسلام او وطن دوستۍ په ګناه د مظالمو ، تېریو ، وحشیانه شکنجو ، وژنو ، د استوګنې بې درغه بارد ژوندیو انسانانو د سېځلو او خښولو هیبتناکه پېښې د دغه خونړیه فاجعې د هرې ورځې او هرې ګړۍ تاریخ او نړه غوڅوونکې سرګذشت ګڼلې شي او په ویښو لیکلې کیږي .

د دغه خونړیه فاجعې وروسته د هېواد هر بوډا او هر ځوان ، هره ښځه سړي او هر ماشوم ، هر سنګر او هر کندو ، هره تړه او هر کمر د خاطرو او تاریخي پېښو او درسونو پراخه ځولې پاته شوې او د ناپایه واقعیتونو ځپاندسمندر .

د غوږې له سفاکانه کودتا وروسته د وحشت ، بربریت استبداد او جنایاتو په سوځوونکې بهیر کې چې زموږ په

زړګونو هېواد وال پې په پوره وحشت او قساوت تر خپل خونړي کومي تېر کړل ، هغه د څرخي پله د خونړي او وحشتناك زندان په وينو لړلې څېره ده . د څرخي پله د زندان په دوم اخېستلو او يادولو د هر افغان په ذهن کې د زړګونو پې ګناه هېواد والو بده وړځ ، زېړې زېښنلې څېرې ، د برق وړکولو ، وهلو ، وژلو او شړندې خښولو او دوړو شکنجو ، چيغو او فريادونو دردوونکي جريان يادېږي او د پيلګون د خونړي او انسان خوړونکي کومي په وينو سره څېره .

د څرخي پله وحشتناك زندان زمونږ په زړګونو مؤمن او مظلوم هېواد وال تر خپل خونړي کومي تېر کړل او په زړګونو نور پې په مياشتو - مياشتو او کلونو د زجر ، شکنجې ، وهلو او برق وړکولو له درد وونکي او له مرګه بدتر ژوند سره مخ .

د دغه وحشتناك او خونړي زندان هره ورځ ، هره ګړۍ هر بلاك او هر د هليز ، هره کوټه او د انګړ هر پل او د وېرووونکو او تورو شپو هره شيبه له ځان سره د ژوندنيو خاطرو او او ارځښتناکه پېښنو پې شېرې پټ رازونه لري او د يوه مظلوم خوجاهد ولس د ترخه ژوند د ترخه داستان د بهير له غږغړو پې کې څېړي .

د څرخي پله د خونړي زندان ناخوالې ، شکنجې ، کړاووونه

وهل، ټکول ، برق ورکول ، مرګ ، ژوبلې او داسې نورو ښېره دردونکو او تراژيکه پېښو ژړوونکي تصويرونه په متفرق ډول زموږ د اسلامي انقلاب د فرهنګي سنګر په بېلابېلو خپرونو کې وخت تر بلې اندازې اخټور شوي دي ، خو بيا هم تر اوسه په هېواد کې د کمونيزم د جلادانو د وحشتناکه زندانونو زړه خوځوونکي بڼه لکه لکه څنګه چې بڼايي نه ده ښودل شوې او تمثيل يې ډېر نيګړی دی او په دې هکله ځانګړي آثار ډېر لږ دي او په ګڼشت شمار ، خو له ښه بخته په دې وروستيو وختو کې د خدای ښبلي والی صيب « روشن احمد شاه » يو ارځښتناك اثر د « بيست ماه در زندان پلچرخی » تر عنوان لاندې له چاپه راوتلی .

(البته کتاب په داسې وخت کې له چاپه راووت او زموږ ګوټو ته راغی چې مرحوم والي صيب د کمونيزم د ظلم او وحشت نه داغ - داغ او د انقلاب د بري او ليکو ديوالي له ارمانونو ډک زړه له دنيا ستړګې پټې کړې وې) .

« بيست ماه در زندان پلچرخی » د څرخي پله د يو کال او اتو مياشتو د وحشت ، شکنجو ، غير انساني برخورد وژنو او نورو پېښو لنډ خو جامع اوتار - تاريز جريان دی چې په خورا ادبي انداز او هنري بڼه کښل شوی دی .

« بيست ماه در زندان پلچرخی » د کمونيزم د وحشي

جلادانو او وینې څښونکو جنایتکارانو له غیر انساني کړنو او حیواني ماهیت څخه پرده پورته کوي .

« بیست ماه در زندان پلچرخی » د اسلام او وطندوستۍ په ګناه زموږ د زرګونو هیوادوالو د زړه بوږنوونکو اوویرونو حالاتو د تصویر مختلف اړخونه وړاندې کوي .

« بیست ماه در زندان پلچرخی » د څرخې پله په وحشتناک زندان کې دکمونیزم د شړمیدلو بربریتوب خونړۍ څېره د شکنجو ، وژنو او نورو فجایعو تاریخ داستان بیانوي.

« بیست ماه در زندان پلچرخی » د هغه خونړۍ زندان خونړۍ تاریخ ، مرګونې ماحول او د خلق پرچم د مزدور او جنایتکار باندونو د غلامۍ، وحشت ، قساوت او بې حیایه سترګو لیدلي حالات بنیي .

« بیست ماه در زندان پلچرخی » دکفر او کمونیزم د شکنجو تعذیب او وژنو په وړاندې د بې ګناه مسلمانو بندیانو ټینګار مقاومت ، قیام او د ټینګ ایمان پاروونکې او زده کوونکې تراژیدي بیانوي .

مرحوم والی صیب دد غه کتاب په لیکلو کې د زندان له ډیرو تیارو ګوټونو او عذاب ځایونو څرګندونه کړې او د هرې پېښې وضاحت . ډیرو باریکو ټکو ته یې پام ګرځیدلی او د کتاب په ترتیب او اوډون یې په خورا هنري توګه را ښغلي دي .

له بلې خوا د دغه اثر ارځښت او اهمیت په دې کې هم دی چې د یو عمر خوښلي لیکوال او یوه سابقه لـــرونکي حکومتي اداره چې د زړو ګوتو ، پاخه فکر او مجرب ذهن محصول دی ، داسې چې په خپله د دغه تاریک او ناوړین د هرې صحنې د ناخوالو او پېښو شاهد دی او عیني ګواه.

په پای کې په داسې حال کې چې د مرحوم والي صیب روح ښاد غواړو ؛ له هغو لیکوالو چې د کمونیزم د وحشتناکو زندانونو میلمانه ؛ شوي دي ، هیله کوو چې د مرحوم والي صیب په لیکه او پیروی د زندانونو او ســـــوړو شکنجه ځایونو په باب د ستر ګو لیدلي حالات او خاطرې راوبرسیره کاندي او انځور.

بیانیهٔ ببرگ کارمل و مشاور روسی اش

Monthly

SPEDE



VOL - 1 - No. 11
June : 1985

«ویقیناً از زمرهٔ شما کسی چنان است که (در رفتن به میدان جنگ) حتماً درنگ می‌کند (سُست و بطی میشود) بعد اگر مصیبتی بشما برسد گوید (بدون شک خداوند برمن انعام کرد که در معیت آنان حاضر نبودم) واگرفضلی از جانب خدا شامل حال تان گردد حقاً بگوید (بطوری که) گویا میان شما و او هیچ مودت و دوستی ای نبود کاش با ایشان می بودم و به پیروزی بزرگی نایل می شدم» .

در مورد اینکه دوران ابتلاءات وآن موجها میان عناصر کاذب و صادق خط فاصل میکشد مدعیان دروغین ایمان را برملا میساند، مخلص را از غیر مخلص و صادق در تعهد را از متعهد کذاب متمایز می سازد قرآن میفرماید:

«احسب الناس ان یترکوآ ان یقولوا امنا وهم لا یفتنون ● ولقدفتنا الذین من قبلهم فلیعلمن الله الذین صدقوا و لیعلمن الکٰذبین» (العنکبوت ۲و۳)

آیا مردم پنداشتند (که بمجرد اینکه) گوید: ایمان آوردیم گذاشته شوند وآزموده نشوند (درحالیکه) مایقیناً کسانیرا که قبل از ایشان بودند آزمایش کردیم پس حتماً خداوند، متمایز سازد کسانیرا که صادق اند وحتماً متمایز سازند دروغگویانرا».

آری! این ابتلاءات طبیعت نهضت اسلامی درهمه ادوارتاریخ بوده است، که با توسل بهر سیاسی وبا اتخاذ هر تدبیری نمیتوان از تلاقی بآن نجات یافت، مگربا سازش ننگین که بطور مسلم منافی ایمان است، با این ابتلاءات است که صادق از کاذب تفکیک می شود.

قرآن طی آیهٔ بعدی، به بُعد دیگر شخصیت منافقین، که در اثنای

میاشتنی ادبی مجله

سپیدکې

(۱۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓئُهُمُ الطَّاغُوْتُ
يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ
اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

سورة البقرة آيت (۲۵۷)

د دوټي تصوير :

د يغمان په سويابي دره کې د افغانستان د مجاهد ولس د
بري ځلي (طاق ظفر) دی ، هيله ده چې د وحشي روسانو
وحشيانه پنڅو ته لا تر اوسه ولاړ وي .

وجه اشتراک سالانه :

د امريکا ۳۰ دالر

د اروپا ۲۵ "

د پاکستان ۶۰ روپيه

شش ماهه، نصف قيمت